


# د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو لارښود

OSCE
ODIHR

خپرونکی: د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر
(OSCE/ODIHR)

Ul. Miodowa 10 00-251 وارسا، پولند

ویبپاڼه: www.osce.org/odihr
© OSCE/ODIHR ۷۱۰۲
ټول حقوق خپرونکی ته محفوظ دي

د دې لارښود مطالب د ښوونیزو او نه سوداګریزو موخو لپاره په آزاده توګه کارول کیدای شي.
د هر ډول چاپ او بیا خپرولو لپاره یې باید د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د دیموکراتیکو
بنسټونو او بشري حقونو دفتر یوه تصدیقپاڼه د سرچینې (منبع) په توګه وکارول شي.

ISBN 978-92-9234-957-8

د صفحې د مخ انځور: OSCE/Jonathan Perfect

ډیزاین: نونا رویټر

# د موضوعاتو نوم لړ


**د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو لارښود** ۱

**سریزه** ۵

**۱. پیژندنه** ۷

۱.۱. د دې لارښود په اړه ۷

۱.۲. لدې لارښود څخه څرنګه ګټه واخلو؟ ۸

**۲. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو شالید** ۱۱

۲.۱. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو موضوع ۱۱

۲.۲. د ټاکنیزو سپارښتنو تعقیبول د څه لپاره؟ ۲۱

۲.۳. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په وړاندې ننګونې ۳۱

۲.۴. ټاکنیزې سپارښتنې چیرته،څنګه او څه وخت تعقیب شي؟ ٤۱

**۳. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په اړه د اروپا امنیت و همکارۍ سازمان ژمنې او نورې نړیوالې ژمنې او مکلفیتونه** ۷۱

۳.۱. د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ژمنې ۸۱

۳.۲. نړیوال اسناد او میکانیزمونه ۹۱

۳.۳. نور سیمه‌ایز اسناد ۱۲

۳.۴. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په اړه نور معیارونه ۳۲

۳.۵. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو اصول ٤۲

**۴. له ټاکنو وروسته مدیریت: ټاکنیز پړاو** ۷۲

۴.۱. د وروستنې راپور خپرول ۸۲

۴. ۲. د وروستنې راپور وړاندې کول ۹۲

۴. ۳. تعقیبې فعالیتونه ۰۳

۴.۴. د اړتیاوو د ارزونې ماموریت ۰۳

**۵. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو ښې تجربې** ۳۳

**۶. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبي فعالیتونو بیلګې** ۵۳

۶.۱. د غړو هیوادونو له خوا تعقیبي فعالیتونه ٦۳

۶.۲. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر تعقیبي فعالیتونه ۷۳

لومړی مثال: تقنیني بیا کتنه ۹۳

دوهم مثال: ټاکنیزه بیا کتنه او استراتیژیک پلان جوړونه ۰٤
دریم  مثال: د مدني ټولنې دادغوښتنه ۰٤
څلورم مثال: د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د بشري ابعادو
کمیټې ته راپور ورکول ۱٤

**۷. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په اړه همغږي او ګډون ۳٤**
۷.۱ له ملي سیالانو سره همغږي ٤٤
۷.۲ د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د غړو هیوادونو ترمنځ همغږي ٥٤
۷.۳ د نړیوالو سازمانونو تر منځ همغږي ۷٤
۷.۴ له مرستندویه او دیپلوماتیکې ټولنې سره همغږي ۹٤

**۸ . د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب ارزونه ۱٥**

**۹. په سیاسي ډګر کې د لږکیو ډلو (اقلیتونو) ګډون ته پراختیا ورکول ٥٥**
۹.۱ د لږکیو ډلو (اقلیتونو) ګډون د پراختیا ورکولو په اړه د
اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ژمني او نور نړیوال مکلفیتونه ٥٥
ښځې ٦٥
ملي اقلیتونه ٦٥
معلولین ٦٥
۹.۲ د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په پروسه کې د اصلاحاتو له لارې د لږکیو ګډون ته
پراختیا ورکول ۷٥

**ضمایم ۹٥**
ضمیمه (A): د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه د اروپا امنیت او همکارۍ
سازمان ژمني او نور نړیوال مکلفیتونه او معیارونه ۰٦
ضمیمه (B): د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه نور اسناد او سرچینې ٩٦
ضمیمه (C): د نومونو او اصطلاحاتو لنډیز ۱۷

# سریزه

د ۰۹۹۱ زګدیز لسیزې په لومړیو کې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر (ODIHR/OSCE) په لومړی ځل له ټاکنو څخه ځارنه تر سره کړه تر څو د دې سازمان د غړو هیوادونو سره د دیموکراتیکو بنسټونو او ټاکنیزو پروسو په پیاوړې کولو کې مرسته وکړي. له هغه وروسته، دې دفتر له ۰۰۳ نه زیاتو ټاکنو څخه ځارنه تر سره کړه. یاد دفتر له ټاکنو څخه د ځار د چارو د شفافیت او حساب ورکولو په انکشاف او دغه راز په ټاکنو باندې د خلکو د اعتماد په لوړولو کې مهم رول لوبولی دی.

له ټاکنو څخه ځارنه په خپل اصل کې کوم خاص هدف نه دی خو د دې لپاره چې ځارنه یو ژور اغیز ولري، نو باید له غړو هیوادونو سره د دوي د ټاکنو اړوند ژمنو او مکلفیتونو په تر سره کولو کې مرسته وشي. له ټاکنو څخه د ځارنې یوه مهمه برخه، وروستې ارزونه او ټاکنیزې سپارښتنې دې چې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر له خوا تر سره کیږی تر څو د ټاکنو تر سره کول نور هم ښه او پیاوړري کړی. له ټاکنو څخه ځارنه هغه وخت ګټوره ثابت کیدای شي چې ټاکنیزو سپارښتنو ته په جدي توګه پاملرنه وشي او په اغیزمنه توګه پلې شي. که چیرې دا کار ونشي نو د ټاکنو پروسه ښایي له ستونزو ډکه وي او د ناوړو پیښو د رامنځته کیدلو تمه هم کیدای شي.

د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان غړي هیوادونه د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په اړه په بیاځلي ټینګار کوي. ځرنګه چې د ۹۹۹۱ زګدیز کال د استانبول په غونډه کې دغه هیوادونو د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر د ټاکنو د ارزونې او سپارښتنو د تعقیب لپاره ژمنه وکړه او دا یې و پټیله چې یاد دفتر به له غړو هیوادونو سره د دغو سپارښتنو په پلې کولو کې مرسته کوي.

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر په دوامداره توګه د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو هڅه کړې او په دې اړه موږ په دې وروستیو کلنو کې خپل فعالیتونه لا نور هم ګړندي کړي دي. موږ په هغه هیوادونو کې چې ټاکنې په کې تر سره شوي وي، په دې اړه خپل وروستنې راپور له اړوندو چارواکو سره شریک کوو او هڅه مو تل دا ده چې د سپارښتنو په اړه د اغیزمنو خبرو اترو زمینه رامنځته کړو. دغه راز موږ له غړو هیوادونو سره د د ټاکنو چوکاټ د حقوقي کره کتنې او نورو تخنیکي موضوعاتو د پلي کولو په برخه کې د مرکو، ګردیو میزونو او نورو فعالیتونو له لارې مرسته کوو.

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو فعالیتونه له ډیرو کلونو را هیسې تر سره کوي؛ موږ هیله مند یو چې دا لارښود به د یوې سیستماتیکې تګلارې په رامنځته کولو کې له موږ سره مرسته وکړې، تر څو د سپارښتنو د پلي کیدو لپاره زیاته پاملرنه را جلب او دغه پروسه په روښانه بڼه عملي شی. د دې لارښود چمتو کول مو د ټاکنیزې ځارنې

په فعالیتونو کې د مسلکیتوب په تیره بیا د څارنې روش د پیاوړتیا د کوښښ یوه برخه ده. موږ باور لرو چې دا لارښود به د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د غړو هیوادونو په کچه د څارنې اغیزمنتیا او د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو د فعالیتونو کیفیت لا پیاوړی کړي. دغه راز دا لارښود د هغو غړو هیوادونو لپاره چې د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب لیوال دي، ګټور تمام کیدالی شي. برسیره پر دې، د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر هم لدې لارښود څخه د یوې عملي تګلارې په توګه، غړو هیوادونو سره د ټاکنیزو سپارښتنو د پلي کولو په وخت کې، کار اخیستلی شي.

په پای کې له ټولو هغو شونونکو او سازمانونو څخه چې د دې لارښود په چمتو کولو کې یې له موږ سره خپل نظرونه شریک کړي دي، په ځانګړې توګه زموږ هغه همکاران چې د ټاکنو د څار اعلامیې اصول یې منلي، مننه وکړم؛ ځکه د دوي له مرستې پرته به د دې لارښود جوړول یو غیر ممکن کار وه.

**مایکل جورج لینک**
**د دیموکراتیکو بنسټونو او بشری حقونو دفتر مشر**




# ۱. پیژندنه

### ۱.۱. د دې لارښود په اړه

د ۰۹۹۱ زګدیز لسیزې په لومړیو کې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر (ODIHR/OSCE) په لومړی ځل له ټاکنو څخه ځارنه تر سره کړه تر څو د دې سازمان د غړو هیوادونو سره د دیموکراتیکو بنسټونو او ټاکنیزو پروسو په پیاوړې کولو کې مرسته وکړي. له هغه وروسته، دې دفتر له ۳۰۰ نه زیاتو ټاکنو څخه ځارنه تر سره کړه. یاد دفتر له ټاکنو څخه د ځار د چارو د شفافیت او حساب ورکولو په انکشاف او دغه راز په ټاکنو باندې د خلکو د اعتماد په لوړولو کې مهم رول لوبولی دی.

له ټاکنو څخه ځارنه په خپل اصل کې کوم خاص هدف نه دی خو د دې لپاره چې ځارنه یو ژور اغیز ولري، نو باید له غړو هیوادونو سره د دوي د ټاکنو اړوند ژمنو او مکلفیتونو په تر سره کولو کې مرسته وشي. له ټاکنو څخه د ځارنې یوه مهمه برخه، وروستې ارزونه او ټاکنیزې سپارښتنې دې چې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر له خوا تر سره کیږی تر څو د ټاکنو تر سره کول نور هم ښه او پیاوړري کړی. د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان غړي

هیوادونه د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په اړه په بیاځلي ټینګار کوي. څرنګه چې د ۹۹۹۱ زګدیز کال د استانبول په غونډه کې دغه هیوادونو د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر د ټاکنو د ارزونې او سپارښتنو د تعقیب لپاره ژمنه وکړه او دا یې و پتیله چې یاد دفتر به له غړو هیوادونو سره د دغو سپارښتنو په پلي کولو کې مرسته کوي.

په اصل کې دا لارښود د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د غړو هیوادونو لپاره چې د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په فعالیتونو کې ښکیل دي، چمتو شوي دی؛ خو کیدای شي د هغو هیوادونو لپاره هم ګټور ثابت شي چې ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه فعالیتونو کې بوخت دي. همدا راز یاد لارښود د سیاسي ګوندونو، اړوندو چارواکو، رسنیو، څارنیزو ډلو او د مدني ټولنې بنسټونو لپاره چې د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په فعالیتونو کې ښکیل دي، ګټور ثابت کیدای شي.

په دې لارښود کې تعقیبي فعالیتونه د دولتي او غیردولتي ادارو ټولو هغو فعالیتونو ته اشاره کوي، کوم چې د ټاکنیزو سپارښتنو ـ کومې چې د ټاکنو څارونکو د ارزونې په نتیجه کې طرح شوی وي، د پلي کولو لپاره تر سره کیږي. همدا راز هغه دیموکراتیک حقوق چې د سیاسي تړونونو او حقوقي معاهداتو په ترڅ کې یې د رامنځ ته کیدو ژمنه شوي وي، وپیژندل شي. په تعقیبي فعالیتونو کې د حقوقي چوکاټ او د ټاکنو د پایلو په اړه انکشافات هم شامل دي او کیدای شي چې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو او یا نورو نړیوالو سازمانونو لخوا یې ملاتړ وشي.

### ۱.۲. لدې لارښود څخه څرنګه ګټه واخلو؟

دا لارښود هغه مهم ټکي را په ګوته کوي کوم چې د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو لپاره اړین بریښي. د لارښود دوهم څپرکی د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه، د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر تګلاره او د هغې اړوند ګټې او ننګونې بیان وي. دریم څپرکی بیا د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ژمنې، مکلفیتونو او نور نړیوال معیارونه ارزوي، چې غړي هیوادونه د سپارښتنو پلي کیدو ته تشویق وی.

څلورم څپرکی د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو ټولې هغه چارې څیړې چې د ټاکنیز دوران او په ځانګړې توګه له ټاکنو وروسته د لنډې مودې په ترڅ کې تر سره کیږي. پنځم څپرکی بیا د ټاکنو ښې تجربې چې د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو اغیزمنتوب لوړ ولای شي، په ګوته کوی. په داسې حال کې چې شپږم څپرکی، غړو هیوادونو ته یو احتمالي میکانیزم بیانوي تر څو هغوی ټاکنیزې سپارښتنې او د تعقیب هغه فعالیتونه چې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشری حقونو دفتر یی سپارښتنه کوي، تعقیب او عملي کړي.

اووم څپرکی بیا د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر او نړیوالو سیالانو او سازمانونو ترمنځ پر همکاري ړنا اچوي، چې د ټاکنیزو سپارښتنو په تعقیب کې ښکیل دي. اتم څپرکی هغه لارې په ګوته کوي کوم چې د هغوي له طریقه د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر سپارښتنې ارزول کیږي.

په نهم څپرکی کې بیا د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په پروسه کې د لږکیو (اقلیتونو) لکه ښځې، قومي اقلیتونه او معلول کسانو د ګډون په اړه خبرې شوې دي.

د لارښود په پای کې ۳ ضمیمې چمتو شوي دي.

د (A) ضمیمه د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه د اروپا امنیت او همکاری سازمان ژمنې او نور نړیوال مکلفیتونه او معیارونه تشریح کوي.

د (B) ضمیمه د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه نور اسناد او سرچینې څرګندوي او

د (C) ضمیمه د نومونو او اصطلاحاتو لنډیز تشریح کړی دی.




# ۲. د ټاکنیزو سپاربښتنو د تعقیبولو شالید

### ۲.۱. د ټاکنیزو سپاربښتنو د تعقیبولو موضوع

په داسي حال کې چې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان (OSCE) غړي هیوادونه د بشر حقوقو، دیموکراسۍ او د قانون حاکمیت ته ژمن دي، پر دیموکراتیکو ټاکنو، د اوږد مهاله امنیت او هوساینې د یوه اساس په توګه، ټینګار کوي. دوي ژمنه کړې تر څو د یاد سازمان غړو هیوادونو، د دیموکراتیکو او بشري حقوقو دفتر او د دې سازمان پارلماني شورا ته بلنه ورکړي، تر څو په هر هیواد کې له ټاکنو څخه څارنه ورکړي.

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر (ODIHR) د ټاکنیزې څارنې د فعالیتونو موخه دا دی تر څو و پټیل شي چې ټاکنیزې سپارښتنې ترکوم حده د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان له ژمنو او نورو نړیوالو مکلفیتونو او ټاکنیزو معیارونو سره مطابقت لري. همدا راز معلومه شي چې په ملي قوانینو کې داسې ژمنو ته تر کوم حده انعکاس ورکول شوي او څرنګه پلي کیږي. په ټاکنیزه څارنه کې هغه ساحې او د عملي وړاندیزونو طرح هم شاملیږي چې د ټاکنو د تر سره کولو د ښتوب په خاطر د غړو هیوادونو هڅې پیاوړې کوي.

تر اوسه پورې د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان له ټولټال ۷۵ غړو هيوادونو څخه په ۶۵ هيوادونو کې د ټاکنو اړوند ۰۰۳ څارنيزه فعاليتونه تر سره کړي دي.[1]

## ۲.۲. د ټاکنيزو سپاربښتنو تعقيبول د څه لپاره؟

په تيرو دوه لسيزو کې د ټاکنو د څار پراخوالی دا په ګوته کوي چې نړيواله ټولنه ټاکنو ته خورا زيات اهميت ورکوي. دغه راز ديموکراتيکې سياسی ودې او د ثبات ټينګښت ته لوالتيا او د کړکيچنو ټاکنو د ناخوالو په اړه عامه پوهاوی ـ چې د امنيت او ثبات مسايل هم په کې شامل دي، دا حقيت له نور هم په ډاګه کوي.

تعقيبی فعاليتونه د ټاکنو تر سره کولو د ارزونې يوه اغزمنه لاره ده چې په ترڅ کې يې هغه ساحې تشخيص کيدای شي چې پرمختک يکې امکان ولری؛ تر څو له ديموکراتيکو حقونو څخه ساتنه وشي او اوږد مهاله ټاکنيز اصلاحات را منځ ته شي.[2] ټاکنيزې سپاربښتنې د څار د فعاليتونو يوه مهمه برخه جوړوي چې په ترڅ کې کيدای شي داسی عملي تګلارې جوړې شي چې د ټاکنو په ښه والي کې ترې ګټه واخيستل شي او د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان ژمنې او نور نړيوال مکلفيتونه عملي کړای شي.

که چيرې ټاکنيزو سپاربښتنو ته پام ونشی، نو ټاکنيزه ستونزې او ګواښونه به دوام و مومې او حالت به نور هم ستونزمن شي. دا نه يوازې دا چې د بشر حقونو له ګواښ سره مخامخ کوي؛ همدا راز کيدای شي دغه ستونزې د ټاکنو پر بهير ناوړه اغيزه وکړي، اعتبار يې تر سوال لاندې راولي او په ملي او سيمه‌ايزه کچه د بې‌ثباتي سبب شي. ټاکنيزو سپاربښتنو ته نه پاملرنه د نړيوالو فعالينو، کوم چې د بشر حقونو په پرمختګ ته ليواله دي، د منفي ځواب سبب ګرځی. دغه راز دا کار په سياسي ډګر، سوادګرۍ او د پرمختيايي مرستو په برخه کې د همکارۍ د محدوديت لامل کيږي. د يادې د وي چې د ټاکنيزو سپاربښتنو په پام کې نيول او پلي کيدل د ملي او نړيوالو فعالينو د ليوالتيا يوه مهمه برخه ده.

د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنيزو سپاربښتنو د تعقيب او پلي کيدو په اړه د غړو هيوادونو غوښتنې ته د بيلابيلو فعاليتونو په تر سره کولو سره، مثبت ځواب ويلی دی. په دغه فعاليتونو کې د ټاکنيز چوکاټ په هکله د تخصصي نظرياتو وړاندې کول، د ګردی ميز او نورو غونډو دايرول او د تخنيکی مشورو ورکول شامليږي. يو شمير غړو هيوادونو د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان دايمي شورا او د بشري ابعادو کميټې ته د ټاکنيزو سپاربښتنو د ښو تجربو او نورو کړنو په اړه راپوررونه وړاندې کړي دي. شپږم څپرکی ورته فعاليتونه په تفصيل سره وړاندې کوي.

۱ يوازنی پاتې شوې غړي هيواد هولی سی دی. د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنو ملاتړی ټيم افغانستان ته په ۴۰۰۲ ، ۵۰۰۲ ، ۹۰۰۲، ۰۱۰۲ او ۴۱۰۲ کې واستوه. دغه راز ياد دفتر په ۲۱۰۲ او ۴۱۰۲ کالونو کې په تونس کې هم د ټاکنو ملاتړی فعاليتونه تر سره کړل.

۲ د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنو د ملاتړی فعاليتونو لپاره فارمټونه جوړ کړل تر څو د ګډونکی دولت اړتياوو ته ځواب ووايی. په دغه فعاليتونو کې د ټاکنو د څار پروګرامونه، د ټاکنو د ارزونی پروګرامونه او تخصصي ټيم شامل وو. د زياتو معلوماتو لپاره د ياد دفتر د کتاب پنځم فصل ته مراجعه وکړئ. په دې کتاب کې د ټاکنو د نظارت ټيم فعاليتونه د ياد دفتر د ټاکنو د فعاليتونو ټول فارمټونه رانغاړي.

د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د اسنادو سربیره، د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب د فعالیتونو د ملاتړ لپاره نور اسناد هم طرح شوي دي. په نړۍوال کچه، د ملګرو ملتونو بیلابیل میکانیزمونه یوه داسې زمینه مساعدوي چې د ټاکنیزو او سیاسي حقونو تطبیق ته چې د بشر حقونو په اسنادو کې ذکر شوي، کتنه وشي. لدې اسنادو څخه یو سند د ۸۴۹۱ زکدیز کال د بشري حقونو اعلامیه او بل یې د ۶۶۹۱ زکدیز کال د سیاسي او مدني حقونو اعلامیه ده. په سیمه‌ایزه کچه، د اروپا د بنسټونو شورا په شمول د اروپا د بشري حقونو محکمه او د امریکایی هیوادونو سازمان د بشري حقونو محکمه شاملې دي، چې ورته رول لوبوي. اروپایی اتحادیې هم ځنې پالیسۍ جوړې کړې دي تر څو په اتحادیه کې د ننه او بهر د ټاکنیزو سپارښتنو تعقیب تر سره کړي. دغه راز د مشترک المنافع مستقلو هیوادونو تړونونه او اسناد هم د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب میکانیزمونه بیانوي.

## ۲.۳. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په وړاندې ننګونې

ټاکنیزو سپارښتنو ته پاملرنه او د هغو پلي کول یو پیچلی کار دی او په کې د زیات شمیر ښکیلو خواوو همکارۍ ته اړتیا لیدل کیږي. لکه حکومتي پالیسۍ جوړونکي اداري، پارلمانونه او تقنیني نهادونه، د ټاکنو د تنظیمولو اړوند نهادونه او نور غیر دولتي فعالین لکه رسنۍ، سیاسي ګوندونه او داسې نور تر څو کورنۍ پالیسیو ته کتنه وکړي؛ د ټاکنیزو سپارښتنو د تطبیق لپاره داد غوښتنې تر سره کړئ؛ او له ټاکنو څارنه وکړي. په داسې حال کې چې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ژمنې او نور نړیوال مکلفیتونه او معیارونه د دیموکراتیکو ټاکنو لپاره یو عام چوکاټ وړاندې کوي، خو باید په یاد مو وي چې هرې ټاکنې ځانګړي مشخصات لري او د موجود شرایطو په نظر کې نیولو سره تر سره کیدای شي.

د دې لپاره چې غړي هیوادونه ولې نشي کولی یا لیوالتیا نه لري چې ټاکنیزې سپارښتنې تعقیب کړي، یو شمیر بیلابیل دلایل شته چې په لاندې ډول ذکر کیږي:

- د سیاسي هوډ نشتوالی: په خاص ډول که چیرې تطبیق کونکی دولت او سیاست وال د داسې تغیر غوښتونکي وي چې هغه د دوي په سیاسي مؤقف او قدرت باندې اغیزه کوي.
- د پارلمان نه ملاتړ: په خاص ډول په هغه صورت کې چې ټاکنیز اصلاحات یوه سیاسي وسیله وګڼل شي او یا هم د اساسي قانون د موادو د تعدیل غوښتنه وشي.
- د سپارښتنو د پلي کیدو لپاره د مسلکي مهارتونو نه شتون
- د هغو ټاکنیزو اصلاحاتو د تطبیق لپاره، چې د بنیادي بدلونونو راوستل ضرور ګڼي، د مالي سرچینو نه شتون
- د راتلونکو ټاکنو څخه د مخه د وخت کموالی او یا د ټاکنو تر وخت د مخه تر سره کول
- کورنۍ کړکیچ، بې‌ثباتي او د جګړې پیل
- او یا هم دا چې ملي سیالان سپارښتنې د قناعت وړ و نه ګڼي او یا هغه د ملی وضعیت سره په ټکر کې وارزوي

ښایي نړیوال فعالین هم د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په برخه کې له ننګونو سره مخ شي؛ په ځانګړې ډول کله چې غړي هیوادونه په دې برخه کې خپل تعقیبي فعالیتونه د نړیوالو ژمنو او

مکلفیتونو په رڼا کې تر سره کړي. څکه نو نړیوال فعالین کولی شي د اړوندو ژمنو د تشخیص، د خلا د موندنې او د سپاربښتنو د تطبیق په برخه کې مرسته وکړي.

خو په پای کې دا د هر هیواد مسئولیت دی تر څو داسې مسایل په خپله حل کړي. د نړیوالو مرستو ورانديز کول هغه وخت له ستونزو سره مخ کیږي کله چې کورنی سیاسي مقاومت را منځ ته شي، سازماني انارشي موجود وي، مدني ټولنې کمزورې وي او یا هم مستقلې رسنۍ شتون و نه لري.

## ۲.۴. ټاکنیزې سپاربښتنې چیرته،څنګه او څه وخت تعقیب شي؟

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر یوازې د اروپا امنیت او همکاری سازمان غړو هیوادونو د ټاکنو څخه څارنه کوي؛ څکه نو د دې دفتر تعقیبي فعالیتونه یوازې د یاد سازمان د پوښښ سیمو پورې محدود دي. کیداي شي څنې فعالیتونه د یاد سازمان همکارو هیوادونو کې هم تر سره شي.[3] د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر خپلې مرستې یوازې د څانګړو غوښتنو په ځواب کې تر سره کوي. دغه دفتر هیڅ کله هم د سپاربښتنو په اړه فعالیتونو د ټاکنو پر مهال او یا د ټاکنو د ترسره کیدو څخه ډیر ژر نه پیلوي څکه دا کار د یاد دفتر بې‌پیلیتوب او استقلالیت تر پوښتنې لاندې راوړي.

د ټاکنیزو سپاربښتنو د تعقیبولو چارې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنیزې څارنې د وروستنې راپور د موندنو پر اساس تر سره کیږي. لکه څرنګه چې په څلورم څپرکی کې ویل شوي، وروستنی راپور څنې سپاربښتنو ته لومړیتوب ورکوي او باید په اساسي ډول ورته پاملرنه وشي. غړي هیوادونه باید دغو سپاربښتو ته کلکه پاملرنه وکړئ تر څو له یوې خوا د ټاکنو ټولټال په پام کې ونیول شي او له بلې خوا د فعالیتونو مالکیت تضمین شي.

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په هر کال کې د یو زیات شمیر ټاکنو څخه څارنه تر سره کوي؛ خو ښایي د هر ماموریت د سپاربښتنو د تعقیبي فعالیتونو لپاره پوره مالي او بشري منابع و نه لري. څکه نو د داسې فعالیتونو د اغیزمن‌توب لپاره د کافي منابعو تخصیص ته اړتیا لیدل کیږي. لاندیني شاخصونه د تعقیبي فعالیتونو د تر سره کولو لپاره یو اساس تشکیلوي.

۱. **د اړوند چارواکو لیوالیتا:** د ټاکنو د تر سره کیدو په اړه ټینګار، د ټاکنیز پلان جوړول، د عامه پوهاوي د غوندو دایرول او په رسمي توګه د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د مرستې غوښتنه په دې کې شامل دي.

۲. **د اړتیا کچه:** دا مسئله د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنیزو سپاربښتنو راپور د موندونو سره سم ارزول کیږي. په دې برخه کې د ټاکنو اړوند ناخوالو او د راتلونکو ټاکنو احتمالي تاوتریخوالي ته هم پاملرنه کیږي.


۳. **د وخت موجودیت:** د ټاکنیزو همکارانو سره د پراخو مشورو لپاره د وخت شتون اړین دی. د

۳ له استثنایي حالاتو پرته د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر خاص حکم د اروپا امنیت او همکاری سازمان له دایمي شورا څخه تر لاسه کوي.

قانون کره کتنه او تصویب، د طرزالعملونو انکشاف او د رایې ورکونکو لپاره د عامه پوهاوی پروګرامونه هم ډیر ضرور دي. که چیرې د راتلونکو ټاکنو څخه مخکې وخت کم وي، نو د تعقیبي فعالیتونو اړوند احتمالی خطراتو لپاره باید سپارښتنې په لږ وخت کې وکتل شي او لومړیتوبونه مشخص سي.

۴. **بشپړتیا:** د نړیوالو او ملي سازمانونو لخوا دې تعقیبي فعالیتونو ته پاملرنه وشئ او دا چې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر  څرنګه داسې فعالیتونه تر سره کړي تر څو له ستونزو او خلاګانو او د یو شان فعالیتونو د تر سره کولو څخه مخنیوی وشي او د پروسې ارزښت لا زیاد شي.

د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب لپاره د لومړیتوب ورکولو دغه شاخصونو څخه د تعقیبي فعالیتونو د ارزونې لپاره هم کار اخیستل کیدای شي. په ځانګړې ډول دا کار هله ګټور تمامیږي چې د ټاکنو په ترڅ کې د ناخوالو وړاند وینه شوې وي.



86 | SPECIFIC HUMAN DIMENSION COMMITMENTS |

ISTANBUL 1999 (Charter for European Security, par. 25)

25. We reaffirm our obligation to conduct free and fair elections in accordance with OSCE commitments, in particular the Copenhagen Document 1990. We recognize the assistance the ODIHR can provide to participating States in developing and implementing electoral legislation. In line with these commitments, we will invite observers to our elections from other participating States, the ODIHR, the OSCE Parliamentary Assembly and appropriate institutions and organizations that wish to observe our election proceedings. We agree to follow up promptly the ODIHR's election assessment and recommendations.

# ۳. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په اړه د اروپا امنیت و همکارۍ سازمان ژمنې او نورې نړیوالې ژمنې او مکلفیتونه

د ریښتینو ټاکنو تر سره کولو لپاره ژمنه چې د خلکو د آزادې ارادې ښکارندویې کوي، د سیاسي او مدني حقونو نړیوال کنوانسیون (ICCPR) د ۵۲ مې مادې او د بشر حقونو نړیوالې اعلامیې (UDHR) په ۱۲ مې مادې کې په ډاګه شوې دی. د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د کوپین هاګن په اسنادو کې ټولو غړو هیوادنو دا منلي چې: ''د حکومتونو د قانونیت او مشروعیت بنسټ د خلکو آزاده اراده تشکیلوي چې د آزادو او منصفانه ټاکنو له لارې ترلاسه کیږي.''

د کوپین هاګن سند، د سیاسي او مدني حقونو نړیوال کنوانسیون او د بشري حقونو نورو نړیوالو اسنادو دا خبره په ډاګه کړې چې غړي هیوادونه باید د بشري حقونو د تأمین لپاره جدي او لازم اقدامات تر سره کړي او ټول نړیوال مکلفیتونه او ژمنې چې دغو هیوادونو پرې موافقه کړې په حقوقي چوکاټ کې شاملې شي. پداسې حال کې چې هیوادونه د دې ډول ژمنو په عملي کولو

کې پراخ واک لري د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر او نور اړوند نهادونه د دغو ژمنو په رڼا کې د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب لپاره قوي او معتبرې لارښونې وړاندې کړي.[4]

دا ډيره مهمه ده چې د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان اسناد، غړي هيوادونه د نړيوالو او سيمه‌ايزو بشري حقونو د اسنادو عملي کولو ته ژمن ګڼي. د بيلګې په توګه، د ٥٧٩١ کال د هلسنيکی په مصوبه کې داسې ذکر شوي دي: ''د بشري حقونو د نړيوالې اعلاميې سره سم عمل وکړئ'' او ''خپل مکلفيتونه بايد په دې برخه کې د نړيوالو اعلاميو، تړونونو او د بشري حقونو د نړيوال ميثاق مطابق تر سره کړئ.'' د ٣٨٩١ کال د مادريد سند په ښکاره ډول له غړو هيوادونو څخه غواړي تر څو له دغه ميثاق قبول کړي. همدا راز د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان اسناد هم د بشري حقونو د نړيوالو ميثاقونو تصويب او عملي کول غواړي چې په کې په اروپا کې د ٠٥٩١ کال د بشري حقونو ميثاق هم شامل دی.

د دې سازمان غړي هيوادونه دا حقيقت مني چې د ټاکنو په اړه د ژمنو عملي کول يوه کورنۍ موضوع نده بلکه د يو نړيوال مسئوليت په توګه بايد و منل شي. د ١٩٩١ کال د ماسکو په اسنادو کې غړو هيوادونو په مسئولانه او قطعي ډول داسې بيانوي چې «د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان د بشري حقونو اړوند ژمنې يوازې د يوه هيواد نه بلکې د ټولو هيوادونو مسئوليت دی.»

د ٠١٠٢ کال د آستانه په غونډه کې غړو هيوادونو د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان او نورو نړيوالو اسنادو پر بشپړ عملي کولو خپل چمتوالی اعلان کړ.

### ٣.١. د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان ژمنې

د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان په چوکاټ کې د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر يو مخکښ ارګان دی چې د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيبولو په اړه د اړوندو پروګرامونو د عملي کولو مسئوليت په غاړه لري. د دغه دفتر د جوړولو بنسټ د ٠٩٩١ کال د پاريس مرام نامې کيښود او نوم يې هغه وخت د ''آزادو ټاکنو دفتر'' وو او دنده يې د ''ټاکنو اړوند ژمنو عملي کول''؛ په خاصه توګه د کوپن هاګن په اسنادو کې د ذکر شوېو ژمنې پياورتيا کول.

د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان غړي هيوادونو، د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب د پروګرامونو د عملي کولو لپاره، ځان ژمن بولی. د دغه کار پر اهميت باندې د غړو هيوادونو مشرانو د استانبول په غونډه کې ډير ټينګار وکړ. هغوی دا و منله چې دوي به د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب د پروګرامونو د عملي کولو لپاره پوره کوښښ کوي او دا يې هم و پټيله چې د ټاکنو د قانون د تدوين لپاره د ياد دفتر مرسته هم د قدر وړ ده.

له هغه وروسته د ٨٩٩١ کال د اسلو په غونډه کې د غړو هيوادونو د وزيرانو شورا په دې اړه يو

٤ د بشری حقوقو د تړون په اړه د ويانا د ٩٨٩١ اسنادو ٢.٣١ پراګراف ته مراجعه وکړئ. وروسته د ښځو په وړاندې د هر راز تاو تريخوالي د مخونيوي د کنوانسيون ٥١ پراګراف و ګورئ. دغه راز د ماسکو د اسنادو ٢.٠۴ پراګراف او د کوپن هاګن د اسنادو ٥ پراګراف چې د بشر د حقوقو په اړه دي مراجعه وکړئ. د هلسنيکي د ٢٩٩١ کال د اسنادو ٢٣ پراګراف هم د تبعيض د له منځه وړلو پّه اړه دي چه کتل يې ضروري دي.

بل سند هم اضافه کړ چې پر مټ يې غړي هيوادونه دي ته تشويق شول تر څو له ټاکنو وروسته د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر سپارښتني په دقيق ډول تعقيب کړي. په اسنادو کې دا هم راغلي چې ياد دفتر بايد د کوربه هيواد سره د سپارښتنو په تعقيب کې مرسته وکړئ او په دې اړه دايمي شورا ته يو راپور وړاندې کړئ.

د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب په اړه ژمنې څو ځله د اروپا امنيت او همکارئ سازمان د وزيرانو شورا په اسنادو کې ذکر او د تاييد وړ ګرځيدلی دي. د ۲۰۰۲ کال د پورټو په غونډه کې له غړو هيوادونو سره ''د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب په اړه مرسته'' وستايل شوه. غړو هيوادونو و منله چې دې ياد دفتر سپارښتنو په هکله خپلې مشورې و نه سپموي. د ۳۰۰۲ کال د ماستريچت په غونډه کې غړو هيوادونو دا ومنله چې د ټاکنيزو سپارښتنو اړوند فعاليتونو د پرمختګ په اړه به د اروپا امنيت او همکارئ سازمان دايمي شورا ته خبر ورکوي. د ۶۰۰۲ کال د بروسل په غونډه کې غړو هيوادونو پر دې ټينګار وکړ چې دوي د اروپا امنيت او همکارئ سازمان د پريکړو د اغيزمن عملي کولو لپاره ژمن دي او په دې اړه د ديموکراتکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر رول د ټاکنو قانون د اروزنې او کره کتنې کې مهم وګڼل. د بروسل له غونډې وروسته د ۵۰۰۲ کال د مشرانو غونډې راپور هم خپور شو چې په کې داسې ذکر شوي ول چې د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر او غړي هيوادونه بايد له ټاکنو وروسته د ديالوګ او عملي همکاريو له لارې په تعقيبي فعاليتونو کې په جديت سره ونډه واخلي او له اړوندو هيوادونو سره له مشورې وروسته، د ياد دفتر په دې اړه دايمي شورا ته يو راپور وړاندې کړي.

يو شمير ژمنې غړو هيوادونو ته د سپارښتنو د تعقيب د څرنګوالي په هکله ځانګړې لارښونه کوي. د اروپا امنيت او همکارئ سازمان د کوپن هاګن سند ۵،۷، ۵،۸. او ۷،۱. پراګرافونه له غړو هيوادونو څخه غواړئ تر څو په قانون کې ټاکينز حقونو تضمين کړئ و داسې قوانينو ته بايد هر څوک لاس رسی ولري. د قانون جوړونې د يوې جامع پروسې په هکله د ۱۹۹۱ کال د ماسکو اسنادو په ۸۱،۱. پراګراف کې داسې اشاره شوې چې قانون به د يوې خلاصې پروسې په نتيجه کې تصويب او نافذ شي چې په کې د خلکو اراده انعکاس و مومي. دغه راز د استانبول د اسنادو ۷۲ پراګراف د بشر د حقونو او آزادئ په تآمينولو کې د سازمانونو او حکومتونو د نقش پر اهميت ټينګار کوي.

په عمومي ډول دغه اسناد د اروپا امنيت او همکارئ سازمان غړي هيوادونه دې ته ژمن بولي تر څو د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر ټاکنيزې سپارښتنې تعقيب کړي او په دې اړه د ياد دفتر ونډه په پام کې ونيسي.

### ۳.۲. نړيوال اسناد او ميکانيزمونه

ملګري ملتونه د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب او پلي کولو لپاره د لارښونې يو نړيوال چوکاټ وړاندې کړی تر څو له هيوادونو سره د ټاکنو په ښه وجه تر سره کولو کې مرسته وکړي. ملګري ملتونه په خپل منشور کې د سولې او ثبات د ټينګښت لپاره د بااعتباره او عادلانه ټاکنو په رول ټينګار کوی. د اروپا امنيت او همکارئ سازمان د ۷۵ غړو هيوادنو له جملې څخه ۶۵ هيوادونه د ملګرو ملتونو غړي دي او يو هيواد يې په دې سازمان کې دايمي ناظر دی.

د ملګرو ملتونو سیستم د مرام بنسټه او تړون بنسټه بشري حقونو اړوند مسایلو تر منځ توپیر رامنځته کړی. د یاد سازمان تړونونه د نړۍ په کچه د ټاکنو اړوند مکلفیتونه ته اشاره کوي؛ چې له دې جملې څخه یو هم د سیاسي او مدني حقونو نړیوال کنوانسیون (ICCPR) دی چې د ټاکنو اړوند بشري حقونو را نغړي. دغه تړون چې د حقوقي مسایلو د تقنین او په سیاسي او ټولنیز ژوندانه کې د خلکو ګډون د تشویق لپاره چمتو شوی؛ ځنی مکلفیتونه هم په ګوته کوی او له خلکو غواړي تر څو و لاړ سي او رایه ورکړئ تر څو بنسټیزه آزادي تر لاسه شي او د خلکو حقوق تامین شي. نور تړونونه بیا د ځانګړو ډلو د ټاکنیزو حقونو په تامینولو ټینګار کوي. ځني داسی نور تړونونه هم په دې اړه موجود دي لکه ''د هر ډول نژادي تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون (ICERD)'' کال ۵۶۹۱ چې له تبعیض څخه خلاص ټاکنیزو حقونو ته اشاره کوي او ''د ښځو پر وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو نړیوال کنوانسیون (CEDAW)'' کال ۹۷۹۱ چې د ښځو د سیاسي ګډون په اړه مکلفیتونو ته اشاره کوي. دغه راز د ۰۹۹۱ کال ''د کډولو کارکوونکو او د هغوي د کورنیو د حقونو د ساتلو نړیوال کنوانسیون'' چې د کډولو له ټاکنیزو حقونو څخه ساتنه کوي او د ۶۰۰۲ کال ''د معلولو وګړو د حقونو د ساتلو نړیوال کنوانسیون'' چې په ښکاره ډول د معلولینو د سیاسي ګډون او د هغوي د حقونو څخه دفاع کوي. بر سیره پر دې، د ۳۰۰۲ کال ''د فساد سره د مبارزې نړیوال کنوانسیون (UNCAC)'' دی چې د عامه خدمتونو او مالي ادارو د روڼتیا په اړه احکام په کې شامل د ي.

**د ملګرو ملتونو د سیستم په اړه د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د غړو هیوادونو د اسنادو د تصویب او توشیح په اړه د تازه معلوماتو لپاره د ملګرو ملتونو د دیتابیس کلیکسیون ته مراجعه وکړئ ...<https://treaties.un.org/>**

د هر تړون د څارنې لپاره د مستقلو کارپوهانو یوه کمیټه جوړه شوې تر څو د غړو هیوادونو کړنې د دغو تړونو د موادو په رڼا کې وڅاري. د بیلګې په ډول د بشري حقونو کمیټه د سیاسي او مدني حقونو د نړیوال کنوانسیون (ICCPR) د تطبیق په اړه څارنه کوی.[5] همدا راز له غړو هیوادونو څخه غوښتل کیږئ تر څو د څار کمیټو صلاحیتونو ته احترام ولري. دغه کمیټې د تړونونو د تفسیر په اړه متعبرې سپارښتنې او نظریات وړاندې کوي تر څو مکلفیتونه روښانه شي. د مثال په ډول د بشري حقونو کمیسیون ۵۲ مه تبصره په عامه چارو کې د ګډون په حقونو ټینګار کوې لکه د نړیوالو او ملي پالیسیو د تدوین او تطبیق په برخه کې ګډون.

څارونکې کمیټې د غړو هیوادونو د کړنو په اړه راپورونه د دغه تړونونو د موادو په رڼا څیړې تر څو د تړونونو اغیزمن عملي کیدل تضمین شي؛ همدا راز غړو هیوادونو ته د حقونو د تامین د څرنګوالي په باب هم سپارښتنې کوي. همدا رنګه د سپارښتنو پلې کوونکی هیواد باید په دې په اړه په خپل راپور کې مفصل معلومات وړاندې کړئ. د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان غړو هیوادونو ته د تړونونو د څار کمیټو له خوا د څارنې د پایلو په اړه معلومات ورکول کیږي. ځنې هیوادونو یو شمیر اختیاري تړونونو او پروتوکولونو هم لاسلیک کړي دي؛ چې دا کار څارونکو کمیټو ته دا صلاحیت ورکړی تر څو د هغه افرادو سره اړیکی ټینګې کړې، کوم چې ادعا کوي چې د تړونونو څخه د سر غړونې ښکار شوي دي او غواړي د دوي شکایتونو

[5] د تړونونو نوري اداري لکه د تبعیض د له منځه وړلو کمیټه، د ښځو په وړاندې د تاورتریخوالي د له منځه وړول کمیټه، د معلولینو د حقوقو کمیټه او داسی نور موجود دي. UNCAC په دې اړه د دولتونو د اولویت بندی کنفرانس جوړ کړی تر څو د تړونونو د تطبیق په هکله همکارۍ پیاوړې شي.

ته پاملرنه وشی. دې شکایتونو د حلولو لپاره د تړون تفسیر او وضاحت ته اړتیا ده چې دا کار همدغه کمیټې کوی. غړي هیوادونه د تړونونو د څار کمیټو پریکړو ته د احترام کولو ژمنه کوي او د سپارښتنو د تعقیب لپاره یې کړنلارې هم جوړې کړې دي. کله چې یوه سرغړونه ثبت شی، اړوند هیواد شپږ میاشتې وخت لري تر څو د حل لپاره کره معلومات د څار کمیټې ته وړاندې کړي؛ که چیرې یاد هیواد پدې و نتوانیږي چې د حل یوه مناسبه لاره پیدا کړي نو قضیه خلاصه پاته کیږي او نتیجې ته تر رسیدلو پورې، په دې اړه خبرې جاري ساتل کیږي.

د ملګرو ملتونو یو شمیر مرام بنسټه اداري د ټاکنیزو سپارښتنو په تعقیبولو کې مهم رول لوبوي چې په کې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او عمومي مجمع هم شاملې دي؛ چې د هغوی پریکړې په مستقیم ډول پر ټاکنو تاثیر لري. د بلګې په توګه د ملګرو ملتونو عمومي مجمع د ټاکنو د اصولو د لا ښه کولو په اړه هر دوه کال پس یوه دایمي پریکړه کوي. په لومړی ځل په ۳۱۰۲ کال او په دوهم ځل په ۵۱۰۲ کال کې د ملګرو ملتونو عمومي مجمع د یاد سازمان غړي هیوادونه مسئول وګڼل تر څو په ټاکنو کې د هیواد هر وګړی ته د مساوي ګډون لپاره لازم اقدامات تر سره کړي. په ۸۹۹۱ کال کې عمومي مجمع د حقونو او مکلفیتونو په اړه یوه اعلامیه خپره کړه او د هغې په ترڅ کې یې وویل چې هر څوک د انتقاد کولو حق لري او کولای شي د حکومتي ادارو او نورو ارګانونو د لاښه اجراآتو لپاره سپارښتنې او مشورې وړاندې کړي. د ملګرو ملتونو د ځانګړې کړنلارې (Special Rapporteurs) سره سم مستقل کارپوهان او کاري ګروپونه کولای شي ټاکنیز اصلاحات د عمومي فعالیتونو د یوه جز په حیث پیشنهاد کړي.

سربیره پر دې، د نړیوالې دورانی کتنې میکانیزم (UPR) د ملګرو ملتونو د غړو هیوادونو لپاره یوه زمینه برابروي تر څو دوي د بشری حقونو او په تیره بیا د ټاکنو د ښه‌کولو لپاره لازم ګامونه پورته کړي. د نړیوالې دوراني کتنې په پای کې، یو وروستنی راپور خپریږئ چې په کې د سرغړونو په اړه سپارښتنې هم شامل وي. د نړیوالې دوراني کتنې میکانیزم د تطبیق په ترڅ کې له اړوندو هیوادنو څخه غوښتنه کیږي تر څو د ټاکنیزو سپارښتنو د څرنګوالی په اړه وضاحت ورکړی. هر هیواد په ۴-۵ کلونو کې یو ځل ارزول کیږی او د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په دې اړه په سیستماتیک ډول د ټاکنو راپورونه د دوراني کتنې میکانیزم سره شریکوي. د اروپا امنیت او همکاری سازمان غړي هیوادونه د دوراني کتنې په میکانیزم کې برخه اخلې.

په عمومي توګه نړیوال چوکاټ د ټاکنو اړوند مکلفیتونه تعینوي تر څو د هغو په رڼا کې د ټاکنیزو سپارښتنو بهیر بشپړ شی. د ټاکنو د څار راپورنه د ستونزو په موندلو او د سپارښتنو په تیارولو سره له دې پروسې سره مرسته کوي چې په نتیجه کې د ټاکنیزو سپارښتنو تعقیب کولای شي د تړونونو سره د سمون په هکله مرستندویه ثابت شي.

## ۳.۳. نور سیمه‌ایز اسناد

اروپایي شورا په خپلو ۷۴ غړو هیوادونو کې چې ټول یې د اروپا امنیت او همکاری سازمان غړي هم دي د بشری حقونو د تطبیق په ساحه کې مهم رول لوبوي. د اروپایی بشري حقونو کنوانسیون (ECHR) د لومړی پروتوکول دریمه ماده د اروپایي شورا غړي هیوادونه ”په مناسب وخت کې او د مناسبو شرایطو په پام کې نیولو سره د سري راې ورکونکې له لارې او خلکو د غوښتنې پر اساس“ د آزادو او عادلانه ټاکنو تر سره کولو ته ژمن بولي. د بشر حقونو اروپایی

محکمه دنده لري تر څو د یاد پروتوکول په تیره بیا د ټاکنیزو مسایلو اړوند موادو تطبیق و څاري. هر وګړی، یا غیر دولتي سازمان او یا کوم خاص ګروپ چې د ټاکنیزو مسایلو څخه د سرغړونې په صورت کې د متاثر کیدو ادعا ولري او کورنۍ د حل لاري ورته د قناعت وړ نه وي، کولی شي چې د اروپایی محکمې ته د مخالف لوري (هیواد) په مقابل کې خپل شکایت درج کړي. په ورستیو وختونو کې د بشري حقوقو په اړه اروپایی محکمې (ECtHR) ډیرو ټاکنیزونو شکایتونو ته پاملرنه کړې دی. یو شمیر موضوګانې لکه د بندیانو، ذهني معلولینو او غیر مقیم اتباعو د رایې اچولو حقونو؛ د نوماندو د وړتیا اصول او پریکړې؛ د رایو اچولو ستونزې؛ د ټاکنیز سیستم ډیزاین؛ د ټاکنو د تنظیمولو نهادونو ناپیلیتوب؛ د شکایاتو او استناف غوښتنې دقیقه پروسه؛ د ټاکنو رسنیز پوښښ په کې شاملیږي. د بشري حقونو په اړه اروپایي محکمه د پریکړو په وخت کې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر ټاکنیزو راپونو ته مراجعه کړې ده. د محکمې وروستنې فیصلې د اړوند هیواد لپاره د اجرا وړ دي او نورو هیوادونو ته یو لارښود کیدای شي. د اروپایی شورا د وزیرانو کمیټه د محاکمو د فیصلو له تطبیق څخه د یو سیاسي او مسلکي فشار له لارې څارنه کوي.

د قانون له لارې د اروپا د دیموکراسۍ کمیسیون (the Venice Commission) د اروپایي شورا یوه قانوني مشورتي اداره ده او ۶۰ هیوادونه په کې غړیتوب لري چې ۱۵ یې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ګډونکي هیوادونه دي. دغه کمیسیون د یو لړ ټاکنیزو حقوقي موضوعاتو په اړه خپلې سپارښتنې او راپورونه وړاندې کوي او له خپلو ربعوارو غونډو څخه څارنه کوي. په ۲۰۰۲ کال کې دغه کمیسیون د "ښو تجربو" تر عنوان لاندې د ټاکنیزو مسایلو په اړه یو طرزالعمل خپور کړ چې د شورا لپاره د یو ماخذ په ډول تری ګټه اخیستل کیږي. دغه طرزالعمل داسې وړاندیز کوي: د دې لپاره چې د قانون تطبیق تضمین شي، د ټاکنو د قانون اساسي عناصر باید له ټاکنو څخه یو کال مخکې تعدیل نشي. د دې لپاره د حل بله لاره کیدای شي دا وي چې که چیرې د ټاکنو د قانون اساسي عناصر تعدیل هم شي نو زوړ سیستم باید تر یوه کال پورې په نویو ټاکنو کې هم پلی شي او له هغه وروسته نوي قانون پلي کیدای شي. خو د ټاکنیزو سپارښتنو تعقیبول باید لدې امر څخه مستثنا وګڼل شي چې باید د قانون او د اروپایی ټاکنیزو ستندردونو څخه د سرغړونې په مفهوم تعبیر نشي؛ ځکه پداسې حالت کې بیا د ټاکنیزو سپارښتنو تعقیب د نړیوالو سازمانونو لخوا غیر ممکن کیږي.[6]

د اداري فساد پر ضد د اروپا شورا (GRECO) غړي هیوادونو د سیاسي ګوندونو او د ټاکنیزو کمپاینونو د مالي چارو اړوند سپارښتنو په اړه راپورونه چمتو کوی. دغه شورا ۹۴ غړي لري چې ټول یی د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ګډونکي هیوادونه دي. کله چې د وینیس کمیسیون او اورپا شورا سپارښتنې د اجرا وړ نه وي، بیا دغه ګروپ په دی اړه خپل وراندیزونه وړاندی کوی.

اروپایي اتحادیه خپلو غړو هیوادونو او نورو هیوادونو سره د دیموکراسی او بشري حقونو د تامین، ساتنې او تقویت په اړه ژمنه کوي. دغه اتحادیه ۸۲ غړي لري چې ټول یې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ګډونکي هیوادونه دي. دغې اتحادیې د پالیسی په سند کې د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب پر اهمیت باندې ټینګار کوي. یادې اتحادیې په ۲۱۰۲ کال کې خپل استراتیژیک چوکاټ او د دیموکراسی او بشري حقونو د تامینولو کاري پلان تصویب کړ

٦ د ټاکنو قانون د تطبیق په اړه د ecineV کمیسون د تفسیري اعلامیې ۲ جز ته په ۲ ضمیمه کې مراجعه وکړی.

چې په نتیجه کې یې دا خبره واضح شوه چې غړي هیوادونه دا صلاحیت لري تر څو د ټاکنیز ځار چارې او راپورونه په منظم ډول تعقیب کړي او د ټاکنیز ځار د ادارو لکه د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د راپورونو او د سپارښتنو له تطبیق څخه ډاډ حاصل کړي. په ۵۱۰۲ کال کې د بشري حقونو او دیموکراسۍ په اړه یو نوی کاري پلان تصویب شو چې د اروپایي اتحادیې او د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر لپاره یې د ښو تجاربو پر ضرورت ټینګار کاوه. د دې لپاره چې د ټاکنو د ځار تاثیر زیات شي، دغه پلان په اروپایي اتحادیه کې د ټاکنیز ځار د ماموریت په سپارښتنو او د غړو هیوادونو د سیاسي دیالوګ او دیموکراسۍ په اړه فعالیتونو باندې هم ټینګار کاوه.

د مشترک المنافع مستقلو هیوادونو سازمان (CIS) هم د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب اهمیت ته اشاره کړې ده. دا سازمان ۱۱ غړي لري چې ټول یې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان غړیتوب لري. په ۸۰۰۲ کال کې د یاد سازمان د بین‌البارلماني شورا په اعلامیه کې د ټاکنو څخه د ځارنې نړیوال اصولو او د ټاکنیزو سپارښتنو په اړه یو شمیر پروسې مشخص شوې دي. د دغه اصولو پر اساس، غړي هیوادونه باید د ټاکنیزو سپارښتنو په اړه خپل وروستني راپورونه له ټاکنو وروسته د دوه میاشتو په ترځ کې یاد سازمان ته وړاندې کړي.

د امریکایي هیوادونو سازمان (OAS) په امریکا کې د دیموکراتیکو ټاکنو د پرمختګ او تقویت لپاره کار کوي. دغه سازمان ۱۱ غړي لري چې یوازې دوه غړي یې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان غړیتوب لري. د یاد سازمان منشور چې د ۱۰۰۲ کال په عمومي مجمع کې تصویب شوي له غړو هیوادونو غواړي تر څو د ټاکنو څخه ځارنه وکړئ او د غړو هیوادونو د غوښتنې په صورت کې له هغوي سره مرسته وکړئ. دغه سازمان له غړو هیوادونو څخه غواړي ترڅو د خپلو ټاکنیزو ځارنو په اړه راپورونه د دغه سازمان دایمي شورا ته واستوي. یاد سازمان د ټاکنیزو سپارښتنو د راپور پر اساس خپلې حقوقي او تخنیکي مرستې تنظیموی.

### ۳.۴. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په اړه نور معیارونه

د نړیوالو ځارنکو لپاره تخصصي معیارونه د ټاکنو د ځار اصولو نړیوالې اعلامیې (DoP) لخوا وضع شوي دی. دغه معیارونه په ۵۰۰۲ کال کې د ملګرو ملتونو په عمومي مجمع کې تصویب شول او د ۰۵ سازمانونو له خود چې د ټاکنو د ځار چارې تر سره کوې تایید شوي دي. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر یو له هغو ۳۲ لومړیو سازمانونو څخه وو چې دغه اعلامیه یې تصویب کړه. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه په دغه اعلامیه کې داسې راغلي چې د ټاکنو ځار ماموریت څخه تمه کیږي تر څو خپلې موندنې او مناسبې سپارښتنې چې د ټاکنیزې پروسې سره مرسته کوي، وړاندې کړي. دغه راز د تعقیب په هکله هم راغلي چې ځارونکي باید له هغه سازمانونو سره چې د دیموکراسۍ په برخه کار کوي غونډې جوړې کړي تر څو د دوي موندنې او مناسبې سپارښتنې تر بحث لاندې ونیسي. دغه اعلامیه د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب فعالیتونو په اړه پر همکارۍ هم ټینګار کوي او له ټولو تصویب کوونکو هیوادونو غواړي تر څو یو له بل سره کار وکړي تر څو نړیوال ځار موثریت او بهبود و مومي.

په ۲۱۰۲ کال کې د ټاکنو د ځار اصولو نړیوالې اعلامیې د غیر جانبدارانه ځار په اړه د ملي ځارونکو لپاره یوشان معیارونه و ټاکل شول. همدا راز په کې دا ژمنه ذکر شوې وه چې د

ديموکراتيکو ټاکنو لپاره به مناسبې سپارښتنې طرح کيږي او ټاکنو د حقوقي چوکاټ د بهبود لپاره به دادغوښتنه کيږي او تطبيق به يې د ټاکنيزو ادارو لخوا تر سره کيږي. دغه اداري به په سياسي او ټاکنيزو پروسو کې د اتباعو د ګډون په لاره کې ټولې موانع له منځه وړي. همدا وجه ده چې ملي څارونکي ګروپونه د سپارښتنو په چمتو کولو او د تعقيب په فعاليتونو کې مهم رول لوبولی شي. د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د دغه اعلاميې ټينګ ملاتړی دی او په نړۍ کې له ۰۵۲ څخه زياتو د ملي څارونکو ګروپونو دغه سند لاسليک کړی دی.

د مرستو د اغيزمنتوب په اړه د ۵۰۰۲ کال د پاريس اعلاميه او ۸۰۰۲ کال د اکرا ( arccA) کاری آجندا هغه سندونه دی چې د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب په اړه مفيد معلومات وړاندې کوي. دغه موافقتنامې چې د امنيت او همکاری سازمان د يو زيات شمير غړو هيوادونو لخوا تصويب شوې دي د نړيوالو مرستو له پاره يوه مؤثره تګلاره طرحه کوي. دغه مرستې د ملي ملکيت پر ا صولو، د ملي همکارانو او دولت تر منځ پر جامع همکاری، متحدو پروژو، د ملي همکارانو د ظرفيت د لوړوالي په هکله مرستو او نتايج محوره پروسو باندې چې حساب ورکولو ته انکشاف ورکوي، تمرکز کوي.

## ۳.۵ د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيبولو اصول

د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنيزو سپارښتنو په باب يو لړ خاصو اصولو ته چې په لاندې متن کې ذکر کيږي خاصه پاملرنه کوي. له دغه اصولو څخه په تير څپرکي کې هم يادونه شوې وه او څه نور به يې وروسته ذکر شي.

- د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنيزو سپارښتنو له تطبيق څخه - چې د ټاکنيز څار په نتيجه کې وړاندې شوي - د سياسي او حقوقي ټړونونو په رڼا کې ملاتړ کوي.
- د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب په اړه د اړوندو غړو هيوادونو د غوښتنې په ځواب کې مرسته کوي.
- د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب په اړه په مستقلانه او غير جانبدارنه ډول فعاليتونه تر سره کوي او دا حقيقت درک کوي چې د ټاکنو وروستنې مسئوليت د غړی هيواد پر غاړه دی.
- د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب په اړه مرستو ته د غړو هيوادونو د اړتيا او د ټاکنو د دايرولو د مهال ويش او د موجودو منابعو په نظر کې نيولو سره لومړيتوب ورکوی.
- ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنيزو سپارښتنو په اړه د ټاکنيز دوران مطابق مرسته کوي؛ سياسي اراده تشويق کوي؛ د ټاکنيز مديريت د پياوړولو ملاتړ کوي؛ عامه مشورو ته وده ورکوي؛ د اروپا امنيت او همکاری سازمان ژمنو او نورو

مکلفیتونو او معیارونو ته رجوع کوي؛ ملي او نړیوال مهارتونه جلبوي؛ عامه پلان جوړونه کې مرسته کوي او د ارزونې میکانیزم او راپور ورکول تشویقوي.

- د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په پروسه کې د سیاسي زیاتوالي او د اقلیتونو په پراخ ګډون ټینګار کوي او ټاکنو کې د ګډون لپاره د مساوي فرصتونو په برابرولو تاکید کوی.

- د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ښار له نورو ملي او نړیوالو څارونکو سره د ټاکنیزو فعالیتونو به همغږی کولو کې مرسته کوی.

- د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب فعالیتونه په روڼ ډول تر سره کوي.

- د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب فعالیتونه په منظم ډول ارزوی تر څو د ټاکنو په پروسه کې ښه والی راوستل شي.

- د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر غړي هیوادونه تشویقوي تر څو د اروپا امنیت او همکاری سازمان د تشکیل او نورو سیمه‌ایزو او نړیوالو میکانیزمونو له مخې د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب فعالیتونو په اړه خپل راپورونه تیار او چمتو کړی.




# ۴. له ټاکنو وروسته مدیریت: ټاکنیز پړاو

ټاکنیز دوران (electoral cycle approach) یو روش دی چي پر مټ یې ټاکنو ته د یوه جلا رویداد پر ځای د یوې دوام لرونکې پروسې د وسیلې په توګه کتنه کوي. دغه تګلاره دا حقیقت بیانوي چي ټاکنې د یو شمیر داخلي تړلو برخو څخه جوړې دي چي یو له بل سره تړلې دي او یو پر بل اغیزه لري. دا بهیر د ټاکنو تر سره کولو پورې ځو کلونه نیسي چې ځو کلونه مخکې د ټاکنو څخه پیل او د ټاکنو د تر سره کولو وروسته ختمېږی. د ټاکنو دوران یو د پیل او پای خاصې نکتې نه لري چې په عام ډول په دریو دورو ویشل کیږي: له ټاکنو مخکې، ټاکنیزه او له ټاکنو وروسته دوره.

۱ شکل: د ټاکنیز دوران دیاګرام، د ډیموکراسۍ او ټاکنیزو مرستو نړیوال انستیتیوت (International IDEA)

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په ټاکنیز دوران کې د سپارښتنو د تطبیق د څرنګوالی په اړه خبرو اترو ته چمتو دی او د تعقیب فعالیتونه له ټاکنو وروسته تر سره کیږي. په ټاکنو وروسته فعالیتونو کې درې عناصر شامل دي: ۱. د دیموکراتیکو بنسټونو او




**۲ شکل : د ټاکنو د څار دوران**

بشري حقونو دفتر د وروستني راپور خپرول ۲. د وروستني راپور وړاندې کول او ۳. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب فعالیتونه.

په راتلونکي مرحله کې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له ټاکنو څخه مخکې د ارزونې چارې د مخکینیو سپارښتنو د تطبیق د ارزونې لپاره زمینه برابروي.

## ۴.۱ د وروستني راپور خپرول

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنو د څار راپورونه د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب د فعالیت اساس تشکیلوي. د ټاکنو د څار وروستني راپور د ټاکنو د پروسې له بشپړیدو څخه دوه میاشتې وروسته خپریږي. دغه راپور کوربه هیواد ته وړاندې کیږي؛ د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په ویب پاڼه کې خپریږي او د نورو رسنیو، غړو هیوادونه، نړیوالو سازمانونو او اکادمیکي ټولنې غړو په واک کې ورکول کیږي. دغه راز دا راپور د کوربه هیواد په رسمي ژبو هم ژباړل کیږي.

په دې راپورونو کې مهم ټکي هغه سپارښتنې دي کوم چې د ټاکنو د حقوقي چوکاټ د انکشاف او د راتلونکو ټاکنو د تر سره کولو لپاره وړاندې کیږي. دا سپارښتنې حکومتي چارواکو، سیاسي ګوندونو، رسنیو، مدني ټولنو او ټاکنیزو ادارو چارواکو سره شریک کیږي ترڅو د تطبیق په

اړه يې لازم بحثونه ترسره شي. سپارښتنې په هغه صورت کې وړاندې کيږي چې په ټاکنو کې ناخوالې موجودې وي او د ژمنو تر سره کيدو ته اړتيا وي. يو شمير سپارښتنې ښايې د قوانينو تعديل وغواړي خو ځنې نور يې په ټاکنيزو مسايلو باندې تمرکز کوي. سپارښتنې بايد تعميري جنبه ولري او په حقيقت استوار وی او بايد د تغيراتو د تطبيق لپاره د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان د ژمنو او نورو نړيوالو مکلفيتونو مطابق واضح لارښوونې پکې موجودې وي. سپارښتنې غړو هيوادونو ته د توصيه بشکل وړاندې کيږي خو بايد آمرانه شکل و نلري او د شرايطو سره د تطابق امکانات په کې موجود وي. د سپارښتنو مسوده د ځار په وخت کې له ښکيلو خواوو سره شريکيږي تر څو د واضح تطبيق څخه يې ډاډ حاصل شي.

سپارښتنې په وروستني راپور کې ذکر کيږي او د مشخصو ژمنو، مکلفيتونو او ستندردونو په پام کې نيولو سره په مستقيم ډول د ستونزو او ناخوالو ته ارتباط ورکول کيږي. دا سپارښتنې د راپور په پای کې ليکل کيږي او کابو څلور تر لسو پورې محدود شمير لومړيتوبونه په کې ذکر کيږي. دغه راز کيدای شي په راپورنو کې د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر مخکينيو سپارښتنو ته چې نه وي حل شوي هم اشاره وشي. دا سپارښتنې په راتلونکې کې د تعقيبي فعاليتونو اساس تشکيلوي او د لومړيتوب په اساس په پام کې نيول کيږي.

د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر سپارښتنې په پوره توګه قطعي او مفصلې نه وي؛ نو غړي هيوادونه کولای شي د ټاکنو د پروسې د بهبود لپاره د نورو ملي ځارونکو، د ټاکنو د تنظمولو ادارو او داسې نورو نړيوالو سازمانونو سپارښتنې هم په پام کې ونيسي.

### ۴ .۲. د وروستني راپور وړاندې کول

د ټاکنو څخه د ځار د وروستني راپور وړاندې کول د سپارښتنو د تعقبولو لپاره يو اغيزمن ميکانيزم رامنځته کوي. کله چې وروستني راپور کوربه هيواد ته ورسپارل شی نو د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د راپور د وړاندی کولو لپاره ياد هيواد ته سفر کوي او خپل راپور د يوې غونډې په ترڅ کې وړاندې کوي او د سپارښتنو د تعقيب په اړه له اړوندو چاروکو سره بحث کوي. داسې غونډې يوازې د کوربه هيواد د چارواکو په غوښتنه تر سره کيږي. د وروستني راپور د وړاندې کولو غونډه د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د لوړ پوړي چارواکي او يا د ياد دفتر د مشر لخوا رهبري کيږي. دغه غونډه له ټاکنو څخه وروسته د درې تر نهه مياشتو په موده کې تر سره کيږي.

په دغه غونډه کې د راپور په موندونو او وړانديزونو غور او بحث کيږي. همدا راز د سفر په مهال هيئت د کوربه هيواد له لوړ پوړو چارواکو، پارلمان غړو او رسنيو سره ليدنې کتنې ترسره کوي او د راپور په هلکه ګردي ميزونه، غونډې دايروي. دغه ليدنې کتنې د بيلابيلو اړخونو تر منځ د تفاهم او مثبتو خبرو موقع رامنځ ته کوي، مبهومې برخې واضح کوي او پر داسې لارو غور کوي چې د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر و کولای شي له اړوندو چارواکو سره د سپارښتنو په تعقيب کې مرسته وکړی. د سفر څخه وروسته ياد دفتر د خپلو غونډو مکمل راپور ليکې او هغه خلکو سره شريکوي.

## ۴ .۳. تعقیبي فعالیتونه

د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب فعالیتونه یو شمیر هغه فعالیتونه دي چې غړي هیوادونه یې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر او نورو فعالینو په مرسته تر سره کوي. دغه فعالیتونه د ټاکنیزو سپارښتنو پر پلي کولو تمرکز کوي؛ ښایي په دغه فعالیتونو کې د بشر حقونو او د دیموکراتیک انکشاف یو شمیر مسایل شامل وی؛ د بیلګې په توګه د غونډو او اتحادیو د جوړولو آزادي؛ د مدني خوځښتنو په لاره اچول؛ له سیاسي ګوندونو، قضایه قوا، رسنیو او نورو ټاکنیزو همکارانو څخه ملاتړ او داسي نور اړونده موضوګاني. دغه تعقیبي فعالیتونه چې غړي هیوادونه او د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په مرسته تر سره کیږي په شپږم څپرکی کې په تفصیل سره شرح کیږي.

ښه به دا وي چې تعقیبي فعالیتونه د ټاکنیزې پروسې له پای څخه وروسته ژر تر ژره پیل شي. د ټاکنیز دوران په ترڅ کې د ټاکنیزې پروسې څخه وروسته زمان د دغو فعالیتونو د پیل لپاره یو ډیر ښه وخت دی ځکه اکثره موضوعاتو لکه د ټاکنو د حقوقي چوکاټ بدلون، د رایه اچونکو نوم لیکنه، د ټاکنیزو حوزو د سرحدات تعیيول، د ټاکنو اداره، د کمپاینو مالي چارې او ټاکنیز معضلاتو ته په ښه توګه پام کیدای شي. د تعقیبي فعالیتونو بشپړول باید د یو دقیق مهال ویش سره سم تر سره شي. په کم وخت کې د ټاکنو پروسې په اساسي مسایلو کې تغییر راوړل ښایي یو لړ ستونزې رامنځته کړي او د سپارښتنو د تطبیق لپاره د وخت د کموالي سبب وګرځي. دا خبره د ټاکنو حقوقي چوکاټ کې د بدلون راوړلو په مورد کې تر دیره بریده صدق کوي او د Venice کمیسیون ښې تجربې دا ښیي چې د ټاکنو د قانون اساسي عناصر باید له ټاکنو څخه یو کال د مخه موده کې تعدیل نشي.

کیدای شي ډیر تعقیبي فعالیتونه له ټاکنو وروسته دروان کې تر سره شي. د مثال په ډول د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د ژمنو په رڼا کې د ټاکنو اړوند د یوې خاصې موضوع په هکله یو ګردی میز دایر شي چې بیا وروسته له هغې ممکن په قانون کې د وړاندیز شویو تعدیلاتو په مسوده باندې غور وشي. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتز هم کولاي شي له فرصت څخه په ګټې اخیستلو سره د ټاکنو تر منځ منځنۍ ارزونه او کتنه تر سره کړي. تر څو د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو وضعیت وڅیړي او د نورو اصلاحاتو لپاره زمینه برابره کړی. په هر صورت د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر تعقیبي فعالیتونه باید د اړتیاوو د ارزونې ماموریت له پیل کیدو څخه د مخکې ختم شي.

## ۴.۴. د اړتیاوو د ارزونې ماموریت

نه یوازې تعقیبي فعالیتونه بلکې له ټاکنو څخه مخکې د اړتیاوو د اروزنې ماموریت (NAM) دا زمینه برابروي تر څو دا وپتیل شي چې سپارښتنې په ټاکنیز دوران کې تر کومه حده عملي شوي دي. په عام شکل د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د اړتیاوو د اروزنې ماموریت له ټاکنو څخه ۴ تر ۶ میاشتې د مخه کوربه هیواد ته استوي تر څو د ټاکنو څخه مخکې چاپیریال مطالعه کړی او دا و پتیل شي چې کوم ډول ټاکنیز فعالیتونه تر سره شي. د یوې سپارښتنې د وړاندې کولو په صورت کې د اړتیاوو د ارزونې ماموریت یو شمیر معیارونه په پام کې نیسي چې په کې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو د مخکینې ټاکنیز څار فعالیتونو د تر سره کولو اندازه هم شاملیږي. د اړتیاوو د ارزونې ماموریت ټول راپورونه د

ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په ويب پاڼه کې د عامه لاس رسي لپاره خپرېږي.

د اړتياوو د ارزونې ماموريت په ترڅ کې بايد دا وپېژندل شي چې سپارښتنې تر کومه بريده عملي شوي دي او کومې سپارښتنې نه دي تر سره شوی. په دغه ارزونه کې بايد د تعقيب د پروسې په وخت تر سره کيدل، بشپړتيا او ټولټال و ارزول شي. دا ارزونه په دې برخه کې هم مرسته کولی شي چې ټاکنيز ځار تر سره شي که نه. د غړي هيواد له خوا د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د مخکينيوو سپارښتنو نه پلي کول ممکن د ياد دفتر فعاليتونه بې مفهومه څرګند کړي ځکه سپارښتنې به يو ډول تکرار رامنځته کړې.

که چيرې د اړتياوو د ارزونې ماموريت وړانديز وکړي چې ټاکنيز ځار ته اړتيا نه ليدل کيږي خو بيا هم د ټاکنو اړوند هغو سپارښتنو او مسايلو ته پاملرنه کيږي چې اړتيا ورته ليدل کيږي. دغه کار کيدای شي له ګډونکي هيواد سره د ملاتړ په حيث د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د تعقيبي فعاليتونو لپاره يو اساس و ګڼل شي.



# ۵. د ټاکنیزو سپاربښتنو د تعقیبولو ښې تجربې

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له غړو هیوادونه سره د ټاکنیزو سپاربښتنو د تعقیب په برخه کې اوږده تاریخچه لري. د دغو کارنو په ترڅ کې یو لړ ښې تجربې تر لاسه شوې دي چې د سپاربښتنو د تعقیب او د ټاکنیزو اصلاحاتو په هکله یې اغیزمن توب ثابت شوی دی. یو څو بیلګو ته یې په لاندې ډول اشاره کیږي.

**۱. سیاسي هوډ او د فعالیتونو داوم:** حکومتونه د اجرایوي او پارلماني قواوو په لرلو سره د ټاکنیزو سپاربښتنو د تعقیب په هکله ستر مسئولیت لري. د اقتدار پر سر د سیاسي ګوند/ګوندونو هوډ د سپاربښتنو د تعقیب لپاره ډیره ضروري ده. د بیلګې په توګه دا کار په قدرت کې د ښکیلو ډلو له خوا د ټاکنیزو اصلاحاتو د یو دقیق کارې پلان جوړولو لپاره د یو ملي دیالوک په لاره اچولو له لارې تر سره کیدای شي. پداسې حال کې چې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر غړي هیواد سره د سپاربښتنو د تعقیبولو په اړه مرسته کوي، خو د فعالیتونو د دوام او خپلو ګټلو په خاطر باید دغه پروسه د کورنې نهادونو له خوا پرمخ یوړل شي. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر پدې پوهیږي چې د ټاکنو د تنظیم او د تعقیبې فعالیتونو مسئولیت د غړو هیوادونو په غاړه دی او یاد دفتر یوازې د پروسې د دوام لپاره د مسئولو نهادونو د ظرفیتونه د لوړولو لپاره مرسته کوي.

**۲. ژر مهاله اصلاحات:** د ټاکنیزې پروسې لپاره د قانون ثبات او حاکمیت ډیر اړین دی او له ټاکنو مهال ویش څخه مخکې د سپارښتنو عملي کول د یو شمیر ټاکنیزو فعالیتونو لپاره زمنیه رامنځته کوي. د بیلګې په ډول د قوانینو تسوید او تصویب؛ د مشورتي بحثونو په لاره اچول؛ د تیرو تجربو ارزول؛ د رای ورکوونکو لپاره د تعلیمي پروګرامونو برابرول؛ او د ټاکنیزو کارکورنکو، نوماندو او نورو ښکیل اړخونو د روزلو لپاره د ظرفیت لوړولو برنامې. که چیرې ټاکنې یقیني نه وي نو له سیاسي پلوه د بحثونو تودیدل هم کم وي او سیاسي موفقونه هم روښانه نه وی. د سیاسي هود درلودل او سیاسي جوړجاړی وخت غواړي او تر مقید ضرب الاجل لاندې کار کول او په داسې حالت کې د پیچلو سیاسي خبرو اترو تر سره کول هم یو آسانه کار نه دی. په کم او لنډ وخت کې د سپارښتنو تعقیب ناسم ښکاري او د سیاسي ګټو قرباني کیږي. د ټاکنیز انکشاف تطبیق او پلان جوړونه وخت نیسي او باید ډیر فعالین پکې ونډه ولري، نو ځکه د سپارښتنو کره کتنه او د ریفورمونو پیل له ټاکنو څخه وروسته یو ښه زمینه ګڼل کیږي.

**۳. ګډون او مشورې :** د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبي فعالیتونو د څرنګوالی په اړه د رایو اتفاق یوه مهمه موضوع ده. ځکه په دې کار سره د ښکیلو خواوو ګډون په پروسه کې تشویق کیږي او پایلې د ټولو خواوو د منلو وړ ګرځي. د سپارښتنو د تعقیب فعالیتونو هله ډیر پیاوړې وي کله چې د مخالفو ډلو، کارپوهانو، مدني ټولنې، سیاسي ګوندونو او د اقلیتونو یو با مفهوم ګډون او تر منځ یې مشورې موجودې وي (نهم څپرکی وګوری). د ښو تجربو په مثالونو کې د پارلماني څو ګوندیزو کمیټو جوړول، د ټاکنو د تر سره کولو نهادونو او مدني ټولنې لخوا د کاري ګروپونو جوړول او په منظم ډول د عامه مشورو او خبرتیاوو د پروګرامونو جوړول شامل دي.

**۴. منل شوی چوکاټ او مکلفیتونه:** د ټاکنیزو سپارښتنو تطبیق کیدای شي له سیاسي پلوه لږ شانته ستوزمن کار وی؛ نو د یو منل شوي چوکاټ او روښانه موخو درلودل، د تعقیبي فعالیتونو د پرمخ وړلو په برخه کې مرسته وکړی. د بیلابیلو اړوند ادارو تر منځ د مسئولیتونو ویش هم د سپارښتنو په تطبیق کې ډیره مرسته کوي او د فعالیتونو د عملي کولو لپاره منل شوی مهال ویش د پروسې رونتیا او حساب ورکولو سرعت زیاتوي. همدا راز د دوراني ارزونې او کره کتنې میکانیزمونه د تعقیبي فعالیتونو تر سره کول پیاوړي کوي. دا کار د دې زمینه هم مساعده وي تر څو وکتل شي چې د ډیموکراتیکو ټاکنو لپاره وړاندیز شوي سپارښتنې تر کومه بریده د اروپا امنیت او همکاری سازمان له ژمنو، ملي مکلفیتونو او نورو ستندردونو سره سمون لري. د ټاکینزو اصلاحاتو په اړه عامه راپوړونه شفافیت او حساب ورکول زیاتوي او په پروسه باندې سیاسي او عامه باور ټینګوي.

**۵. همغږي او یو والی:** د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه د ملي او نړیوالو ادارو تر منځ همغږي د پروسې د اغیزمن توب باعث ګرځي او د کارونو له تکرار څخه مخه نیسي. همغږي اصلاً د ګډو کارونو، منظمو ګډو غونډو او د نظریاتو د شریکولو په نتیجه کې منځ ته راځي. په خاص ډول د دې لپاره چې د تعقیب وضعیت و څیړل شي او راتلونکي فعالیتونه په ښه توګه پلان شي، نو منځ مهاله ارزونه باید تر سره شي.



# ۶. د ټاکنیزو سپاربښتنو د تعقیبي فعالیتونو بیلګې

کیدای شي د ټاکنیزو سپاربښتنو تعقیبي فعالیتونه د غړیو هیوادونو د دولتي چارواکو او غیر دولتي فعالینو له خوا په یوه ټاکلي وخت کې تر سره شي. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر یا نورو نړیوالو سازمانو له خوا وړاندیز شوي تعقیبي فعالیتونه کیدای شي ښه نتیجه ورکړي. په لاندې جدول کې د تعقیبي فعالیتونو ځنې مثالونه ذکر شوې چې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر او نړیوالو سازمانو له خوا تر سره شوي دي.

## ۶.۱. د غړو هیوادونو له خوا تعقیبي فعالیتونه

| فعالیت | احتمالي لاربنود سازمانونه | شرح |
|---|---|---|
| **د قوانینو ځیرل او بیاکتنه** | **پارلمان**<br><br>**پارلماني کمیسیونونه** | تقنیني اداري او پارلماني کمیسیونونه کولای شي ټاکنیز فعالیتونه وارزوي او د بهبود لپاره یې سپارښتني وړاندي کړي. دغه راز د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر، د مدني ټولني او نورو سازمانو سپارښتني هم باید و ارزول شي. په ډیرو هیوادونو کي پارلماني کمیسیونونه د ټاکنیزو سپارښتنو په اړه له خلکو او مینه والو ګروپونو سره سلا مشوري تر سره کوي تر څو د هغوي نظریات تر لاسه کړي. دغه کار د غونډو، ورکشاپونو، رسیدنو له لارې او په آنلاین ډول تر سره کیږي.<br><br>له دي وروسته، تقنیني اداري او پارلماني کمیسیونونه کولای شي داسي قوانین تصویب کړي چي د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر سپارښتنو ته چي هدف یې د حقوقي چوکاټ انکشاف او د راتلونکو ټاکنو ښه والی دی، پاملرنه وکړای شي<br><br>دغه راز پارلمانونه کولای شي د ټاکنو د تنظیمولو نهادونه د کارونو په تدقیق سره اصلاحاتو ته انکشاف ورکړي. |
| **ټاکنیزه کره کتنه او استراتیژیک پلان جوړونه** | **د ټاکنو د تنظیمولو نهادونه**<br><br>**کاري ګروپونه**<br><br>**کاري تخصصي ګروپونه** | د ټاکنو د تنظیمولو نهادونه کولي شي ټاکنیز فعالیتونه و ارزوي او د اصلاحاتو لپاره استراتیژیک پلان طرح کړي. دغه راز دوي کولای شي د حقوقي بدلونو لپاره سپارښتني چمتو او پارلمان ته یې د غور او بحث لپاره وړاندي کړي. په ځني هیوادونو کي د ټاکنو د تنظیمولو نهادونه د تقنیني اقداماتو حق لري او کولای شي ځني قوانین پیشنهاد کړي.<br><br>دغه راز د ټاکنو د تنظیمولو نهادونه کولای شي داسي ارزونه تر سره کړي او دا معلومه شي چي د دیموراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر، مدني ټولني او نورو سازمانو سپارښتني تر کومه بریده تطبیق او عملي شوي دي. د ارزوني پروسه جامع وي او په کي د نورو دولتي ادارو، سیاسي ګوندونو، مدني ټولنو، د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر او نورو ادارو سره مشوري شاملي دي.<br>کیدای شي د نورو کاري ګروپونو له خوا هم ورته فعالیتونه تر سره شي چي په کي پر یوي خاصي برخي تمرکز و شي. په داسي کاري ګروپونو کي د خلکو استازي او د نړیوالو سازمانونو کارپوهان شامل وي. |
| **د مدني ټولني ارزوني، داد غوښتنه او څارنه** | **ملي څارونکي ګروپونه**<br><br>**سیاسي بنسټونه، څیړنیز نهادونه**<br><br>**مدني ټولني** | د مدني ټولني نهادونه کولای شي ګردي میزونه او نور داسي فعالیتونه تر سره کړي تر څو خپلي سپارښتني چمتو کړي او دا هم معلومه کړي چي ټاکنیز سپارښتني تر کومه حده تطبیق شوي دي. دا کار کولای شي د دادغوښتني باعث شي او چاراوکي او نور همکاران دي ته ترغیب شي تر څو سپارښتني تطبیق کړي. په هغه هیوادونه کي چیري چي د ریفورمونه په هکله سیاسي اراده وجود و نلري، د مدني ټولني د سازمانونو داد غوښتنه تر ډیر حده د تعقیبي فعالیتونو د تشویقولو لپاره تاثیر کولای شي. په خاص ډول کله چي دغه سازمانونه د اساسي ریفورمونو او لومړیتوبونو لکه د رایه اچونکو نوم لیکنه او د ښځو د ګډون لپاره کلیدي پلاټفورمونه جوړ کړي.<br><br>د مدني ټولني سازمانونه کولای شي د ټاکنو له مودي څخه وروسته راپورونه او مطبوعاتي اعلامیي خپري کړي او ورسره د ریفورمونه په اړه هم ارزونه تر سره کړي او هغه مسایل چي پاملرني ته اړتیا لري، څرګند کړي. |

| فعالیت | احتمالي لاربښود سازمانونه | شرح |
| --- | --- | --- |
| د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان دايمي شورا او د بشري حقونو د انساني ابعادو کميسيون ته په داوطلبانه ډول راپور ورکول | اجراييه قوا (حکومت)<br><br>پارلمان | د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د ژمنو سره سم، غړي هیوادونه دايمي شورا او د بشري حقونو د انسانی ابعادو کمیسیون ته په داوطلبانه ډول د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنیزو سپارښتنو په اړه راپورنه وړاندي کوي.<br><br>د امکان په صورت کي یاد دفتر په غونډو کي ګډون کوي تر څو د ژورو بحثونو د تسهیل لپاره لازم معلومات او مشورې وړاندي کړي. |
| د ملګرو ملتونو د ترون د څارني اداري، نړيواله مقطعي ارزونه او د نورو ميکانيزمونو په اړه راپور ورکول | اجراييه قوا | غړي هیوادونه کولای شي له وخت څخه په کټه اخیستلو سره د ملګرو ملتونو د تړون د څارني اداري، نړیواله مقطعي ارزونه او نورو ادارو ته چي دوي يې غړيتوب لري د دوراني راپورونو په ترڅ کي د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه خپلي تبصرې وړاندي کړي. کیدای شي دا د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د وړاندیزنو په اړه د اقداماتو د څرګندولو چي د نړیوالو سازمانو له خوا هم تر سره کیږي یوه ښه زمینه وي. |

## ۶.۲. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر تعقیبي فعالیتونه

| فعالیت | شرح |
| --- | --- |
| حقوقي کره کتني | د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د غړیو هیوادونو سره د هغوی د غوښتني پر بنسټ د قانون مسودي د کره کتني په برخه کي مرسته کوي؛ تر څو دا حقیقت یقیني کړي چي د قانون مسوده د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان له ژمنو او نورو نړیوالو مکلفیتونو سره سمه چمتو شوي ده. پدې بیا کتنه کي د ټاکینز قانون مسوده او د بشري حقونو او ټاکنو اړوند نور قوانین لکه د غونډو او بیان آزادۍ، د سیاسي احزابو او د دوی د مالي چارو په اړه قوانین شامل دي.<br><br>حقوقي کره کتني دا ګټه لري چي د کارپوهانو نظریات د قانون مسودې په اړه چي د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان له ژمنو او نورو نړیوالو مکلفیتونو سره په مطابقت کي چمتو شوي دي که نه را ټول کړي. د قانون مسودي ارزونه دا ګټه هم لري چي د قانون په اړه مخکي له دي چي پارلمان ته وړاندي شي د خلکو بی طرفانه نظریات متحد کړي.<br><br>په ټاکنیزه برخه کي حقوقي کره کتني د Venice کمیسیون سره یو ځای د "ګډ نظر" تر عنوان لاندي تر سره کیږي. د دیموکراتیکو او بشري حقونو دفتر د Venice کمیسیون په عامه غونډو او د دیموکراتیکو ټاکنو په مشورتي ناسته کي د څارونکي موقف لري. د حقوقي کره کتني غوښتنه په مستقیم ډول د غړي هیواد له خوا کیږي او یا هم په غیر معمول ډول د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان او یا اروپایي سازمانونو د شورا له خوا مطرح کیږي. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د افرادو او غیر دولتي موسساتو له خوا د حقوقي کره کتني پر غوښتني غور نه کوي. ټول ګډ نظریات د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په ویب پاڼه کي خپریږي.<br><br>له حقوقي کره کتني وروسته د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر، کوربه هیواد ته د سفر تیاری نیسي تر څو اړوند هیواد ته خپل راپور تسلیم او د سپارښتنو په اړه له ښکیلو خواوو سره خبري اتري تر سره کړي. |

| | |
|---|---|
| **د قانون د تسوید په اړه حقوقي نظريات** | د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د قانون د تسويد په موده کې اړوند هيواد، په ځانګړې ډول د هغه هيواد پارلماني کميسيونو او کاري ګروپونو ته څېړل حقوقي نظريات وړاندې کوي تر څو تعديلات و ارزوي. دغه راز ياد دفتر په دې اړه هم معلومات ورکوي چې د سپارښتنو د پلي کولو لپاره کوم فعاليتونه مهم دی او آيا دغه فعاليتونو د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان د ژمنو، نړيوالو مکلفيتونو او ستندردونو سره سمون خوري که نه.<br><br>ياد دفتر خپلې تبصرې په ليکني بڼه پارلماني کميسيونو او کاري ګروپونو ته استوي؛ د هغوي په غونډو کې ګډون کوی او د سپارښتنو په اړه ډير بحثونه په لاره اچوي. کله ناکله دا کار د ecineV کميسيون سره په ګډه تر سره کيږي.<br><br>دغه راز د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر کولای شي په غړي هيواد کې د قانون جوړوني ټول طرزالعمل مطالعه کړي تر څو دا ډاډ حاصل کړي چه دغه پروسه شفافه، موثره او جامع ده. |
| **د ځانګړو ټاکنيزو برخو ژوره ارزونه** | د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر کولای شي د ځانګړو ټاکنيزو برخو د ژورې ارزوني لپاره يو ټيم واستوي. د داسي ارزوني فارمټ فرق کوي؛ ځکه ځني يې لنډ مهاله وي چې له ۳- ۵ ورځو وخت نيسي او په کې يوازې د ياد دفتر کارکوونکي برخه اخلي. ځني سفرونه چې بهرني کارپوهان هم په کې شامل وي له ۰۱ نه تر ۴۱ ورځو وخت نيسي.<br><br>د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر ګډون کونکي هيواد ته سفرونه تر سره کوي تر څو د رايه اچوني تکنالوژي، د نوم ليکني او د ټاکنو د مديريت سيستم جوړولو په اړه د کوربه هيواد د سپارښتنو په هکله ژوره ارزونه تر سره کړي. دا ډول ارزوني کيدای شي ګډون کوونکي هيواد ته په مستقيمه توګه وړاندي شي او يا د ګردي ميز له طريقه ورسول شي او يا هم د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو په ويب پاڼه کې خپرې شي.<br><br>ياد دفتر کولای شي د ديموکراسی او بشري حقونو اړوند مسايلو په ارزونه کې چې د ټاکنيز څار ماموريت په ترڅ کې مشخصې شوي، برخه واخلي. په دې کې د قانون حاکميت، عامه اداره، د وګړو سرشميرنه، سياسي مالي چاري، د بيان آزادي، د سياسي ګوندونو رول، د ښځو سياسی ګډون، د اقليتونو او د معلولينو ګډون په شان مسايل شامل دي. |
| **د ټاکنيزو سپارښتنو د تطبيق او نورو ټاکنيزو ښو تجربو په هکله تخنيکی مشورې** | د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر کولای شي د ټاکنو اړوند مسايلو په اړه د سپارښتنو د تطبيق او نورو ټاکنيزو ښو تجربو په هکله تخنيکی مشورې وړاندې کړي. ښايي دا کار په ګرديو ميزونو، سيمينارونو او غونډو کې د ګډون له لارې تر سره شي.<br><br>د دې فعاليتونو يو څو مثالونه په لاندې ډول دې لکه تقنيني ريفورمونه؛ د ټاکنيزو حوزو د سرحدونو تعينول؛ د نوماندانو د نوم ليکني طرزالعملونه؛ د ټاکنو بيلابيل اداري سيستمونه؛ د ټاکنيزو سپارښتنو په عملي کولو کې د سياسی ګوندونو نقش؛ د راي اچوني په اړه نوي تکنالوژي؛ د کمپاين د تمويل لپاره د څار د ميکانيزمونو ښه کول؛ د ټاکنيزو شخړو د حل لپاره د يو موثر سيستم ايجادول؛ او د ښځو او د نورو ډلو د ګډون پراخوال<br><br>داسي پروګرامونه تر ډيره بريده د اروپا امنيت او همکاری سازمان د سيمه‌ايزو فعاليتونو د واحدونو او نورو نړيوالو سازمانونو او ګډون کوونکو هيوادونو له خوا نتظميږي. د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر هم کولی شي اړوند نور موضوعي پروګرامونه د ګډون کوونکي هيواد چاراواکو او د مدني ټولنې لپاره تنظيم کړي. ياد دفتر ژمنه کوي تر څو اپوزيسيون او غير پارلماني ګوندونه، د مدني ټولنې سازمانونه او د اقليتونو استازي دغو پروګرامونو ته را وغواړي.<br><br>دغه دفتر د کارپوهانو يو ديتابيس لري تر څو وکولای شي په خاصو ټاکنيزو مواردو کې له هغوی څخه مشوره واخلي. |

| | |
|---|---|
| **د ښار له ګروپونو څخه ملاتړ** | د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له کلونو راهیسې د ښار ملي ګروپونو څخه ملاتړ کوي. یاد دفتر دوی ته د ښار ټکنالوژي او ظرفیت لوړولو په برخه کې روزنیز پروګرامونه چمتو کوي؛ همدا راز د راپور لیکنې، د سپارښتنو بیا کتنه، له سیاسي ګوندونو سره د ټاکنو د اصلاح کولو په هکله د ډیالوګ تسهیل کول او داسې نور موضوعات شامل دي.<br><br>یاد دفتر کولای شي د ټاکنو ریفورمونو د انکشاف او د وړاندیزونو د څرګندولو له لارې د ښار ملي ګروپونو کچه لوړه کړي.<br><br>یاد دفتر د ښار ملي ګروپونو د ملاتړ لپاره یو لاربښود خپور کړی او د ښار د ګروپونو لپاره په وړیا توګه آنلاین زدکړې مهیا کوي. دا دفتر کولای شي د دغه ګروپونو د علاقې وړ مسایلو په اړه سیمینارونه دایر کړي. |
| **د منځ مهاله ارزونې لیدنې کتنې** | د غړي هیواد د سیاسي لیوالتیا په پام کې نیولو سره د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر کولای شي دغه هیواد ته ولاړ شي او منځ مهاله ارزونې تر سره کړي. د ارزونې پر ترڅ کې دا معلومه کړي چې سپارښتنې تر کومه بریده عملي شوي دي. داسې ملاقاتونه کولای شي ګډونکي هیواد او دایمي کمیټو ته د سپارښتنو د تطبیق ژمنې ور په یاد کړي او هغوی تطبیق ته زیات تشویق کړي. |
| **تسهیل او همغږي** | د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر کولای شي د ملي فعالینو او نړیوالو سازمانونو تر منځ د تعقیب د فعالیتونو په اړه د همغږي په رامنځ ته کولو سره د ټاکنیزو ریفورمونو لپاره زمینه مساعده کړي. د ټاکنیز ښار موندنې او سپارښتنې د راتلونکو ریفورمونو لپاره لاره هواروي؛ په داسې حال کې چې د ټاکنیزو ریفورمونو په هکله د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر اوږده تاریخچه غړي هیواد ته د نورو هیوادونو په پرتله د مقایسوي تجربو زمینه برابروي تر څو د تعقیب له پاره یو چوکاټ رامنځ ته کړي.<br><br>برسیره پر دې یاد دفتر کولای شي چې د سیاسي ډیالوګ او ریفورمونو په اړه د ملي سیالانو او نړیوالو سازمانونو تر منځ د همغږۍ له لارې د تعقیبي فعالیتونو د تسهیل په اړه مرسته وکړي. |

## لومړی مثال: تقنیني بیا کتنه

په دې وروستیو کلونو کې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان یو شمېر برخه والو هېوادونو د خپلو ټاکنیزو پروسو د ښه‌توب په موخه، تقنیني بیاکتنه د یوې وسیلې په توګه تر سره کړې تر څو خپل تعقیبي فعالیتونو د یاد سازمان د ژمنو سره سم برمخ یوسی. یوه بیلګه یې د یو غړي هیواد د پارلمان له خوا د یوې ځانګړې کمېټې رامنځته کول ول. یاد هیواد دغه کمېټې ته دنده وسپارله تر څو د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر سپارښتنې د ټاکنیز قانون د بیاکتنې په ترڅ کې په پام کې ونیسي. پر ټولو پارلماني خواوو سربېره، په دې کمېټې کې د ټاکنو د تنظیمولو نهادونو او مدني ټولنې غړیو هم ګډون درلود. یادې کمېټې په خپلې لومړنۍ ناسته کې کاري پلان جوړ کړ او خپلو راتلونکو ناستو ته یې ځانګړي مسایل له مشخص ضرب العجل سره په ګوته کړل.

یادې کمېټې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر څخه د کارپوهانو غوښتنه وکړه او د هرې ناستې څخه وړاندې د یاد دفتر کاري ډلې د پاملرنې په موخه د تېرو راپورونو پر بنسټ خپلې تجربې چمتو او کمیټې ته یې لیږلې. د یاد دفتر کارپوهانو په منظم شکل د کمیټې په غونډو کې ګډون کاوو او د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د ژمنو او نورو نړیوالو ستندرډونو په رڼا کې د قانون مسودې په اړه خپل نظرونو وړاندې کول. د کمېټې ناستې علني وې او وړاندې له دې چې برخه وال وروستي هوکړې ته ورسیږي د یو شمېر هغو اصلاحاتو په اړه پراخ نظرونه وړاندې کیدل چې د یاد دفتر د سپارښتنو پراخه برخه به یې تشکیلوله. خلکو

سره د پراخو مشورو وروسته او د راتلونکو ټاکنو څخه نږدې ۸۱ میاشتې وړاندې د یاد هیواد پارلمان له خوا د کمیټې وړاندیز شوي قانوني تعدیلات تصویب شول. د کمېټې غړیو د پراخې سلا مشورې په اړه چې ډېر وخت یې هم ونیو، ګټورې څرګندونې وکړې او د خپلو نظرونو په ترڅ کې یې څرګنده کړه چې دا د اصلاحاتو په پروسه کې د برخه والو د هڅونې او پراخو پایلو د منلو اغېزمنه لاره وه.

## دوهم مثال: ټاکنیزه بیا کتنه او استراتیژیک پلان جوړونه

یو منل شوی اصل دا دی چې ټولې ټاکنیزې پروسې له دوامدارو او اغیزمنو اصلاحاتو څخه ګټه اخیستلی شي؛ تر څو د نویو او څرګند شویو ننګونو پر وړاندې مقاومت وکړی. په ډېرو هېوادونو کې ټاکنیز اصلاحات د نوم لیکنې سیسټم د عصري کولو هڅې په بر کې نیسي تر څو د سیستم دقت او اغېزمنتوب ډاډمن شي؛ په ځانګړې ډول په هغه ټولنو کې چې شمیرنه په زیاتیدو وي. په دې وروستیو کې د یو غړي هېواد د ټاکنو مرکزي کمېسیون له ټاکنو وروسته بیاکتنه تر سره کړې او وپیټله چې د نوم لیکنې یو اوتوماتیک او متمرکز سیسټم جوړول د یوه مهم لومړیتوب په توګه د رای ورکولو لست په دقت کې مرسته کوي. د اړوندو ادارو سره په سلا مشورې کمېسیون یوه مقدماتي استراتیژي جوړه او په اړه یې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو څخه د کارپوهانو د نظر غوښتنه وکړه ترڅو ځان باوري کړي چې ټاکنیز دا استراتیژي د اروپا امنیت او همکاری سازمان د ژمنو او د یاد دفتر د تېرو سپارښتنو سره مطابقت لري.

وروسته د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د کارپوهانو یو ټیم دغه هیواد د څو ورځو لپاره واستاوه تر څو له چارواکو او مدني ټولنې سره د وړاندیز شویو سپارښتنو په هکله بحث وکړي. هیئت یو ژوره ارزونه تر سره او د سپارښتنو د انکشاف لپاره یې یو راپور چمتو کړ. د راپور وروسته چارواکو ته وړاندې شو او هم د یاد دفتر په ویبپاڼه کې خپور شو. همدا رنګه دا راپور د یو عامه ګردي میز په ترڅ کې خلکو ته وړاندې شو. دغه ګردي میز د بیلابیلو همکارانو د اندیښنو په څرګندولو کې ډېر موثر ثابت شو چې په کې لرې پاته شویو ګروپونو لکه کلیوالو ښځو او نورو وروسته پاته ټولنو ته رسیدنه په کې شامله وه. د دغه ګردي میز په نتیجه کې نړیوالې ټولنې د مدني ټولنې ګروپونو ته خپلې مرستې وروسولې چې د ټاکنیز کمیسیون سره یې یو ځای د رایو ورکونکو د نوم لیکنې پراخ کمپاین تر سره کړ چې په نتیجه کې یې نه یوازې پراخه ګډون را منځ ته شو بلکې د سپارښتنو د تعقیب په پروسه باندې یې اعتماد را منځ ته کړ.

## دریم مثال: د مدني ټولنې دادغوښتنه

د مدني ټولنې سازمانونه د سپارښتنو د تعقیب او عملي کولو د ارزونې په برخه کې مهم رول لوبولی شي. هغوي کولای شي بریالیتوبونه او ناکامۍ تشخیص کړي او د ټاکنیزو اصلاحاتو پروسه لا ګړندی کړي. په دې وروستیو کې د ملي څارونکو یوې ډلې د سپارښتنو د تعقیب او عملي کولو د ارزونې یو پروژه عملي کړي. د دغه فعالیت په پیل کې دوي د کورنیو او نړیوالو سازمانونو د سپارښتنو د تطبیق د ارزونې لپاره واضح معیارونه طرح کړل.


د اصلاحاتو پروسې په ترڅ کې د مدني ټولنې سازمانونو دوه میاشتنۍ خپرونه رامنځ ته کړه چې د انکشافاتو په اړه به یې تازه خبرونه خپرول؛ او هغه برخې یې په ډاګه کولې چې پاملرنې ته یې اړتیا درلوده او د پارلمان د پاملرنې لپاره یې مختلفې سپارښتنې کولې. دغه سازمانونو په پراخه

اندازه د نړیوالو همکارانو باور ځان ته جلب کړ او دوه میاشتنی خپرونه په سیاسي ګوندونو او نړیواله ټولنه کې ډیره مطرح شوه. په عادي راپوروتو برسیره، دغه سازمانونو ګردي میزونه ترتیبول او له رسنیو سره به یې مرکې کولې. د مدني ټولنې سازمانونو دا شان هڅې د ټولو له خوا ستایل کیدې او ورته د خلکو د خبرتیا د موثرو وسایلو په سترګه کتل کیدل چې په نتیجه کې یې حساب ورکول د اکثر فعالینو په منځ کې را منځته کړل او د بیلابیلو چاروکو او مدني ټولنې تر منځ یې د ریفورمونو د تاثیراتو او عقلانیت په هکله باور را منځ ته کړ.

### څلورم مثال: د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د بشري ابعادو کمیټې ته راپور ورکول

غړي هیوادونه د سپارښتنو د تعقیب په اړه د اروپا امنیت او همکارۍ د بشري ابعادو کمیټې ته په داوطلبانه ډول راپورونه وړاندې کوي. په تیرو مثالونو کې مو وکتل چې څرنګه یو غړي هیواد د یاد سازمان د څار هیات، د ټاکنیز مرکزي کمیسیون د سپارښتنو او د اتباعو د راپورونو پر اساس د اصلاحاتو پروسه مخ په وړاندې بوتله. دغه راز یاد هیواد د سپارښتنو په اړه یو واضح نظر وړاندې کړ او دا یې و پټیله چې څرنګه په قوانینو کې تعدیلات رامنځ ته شول او دا هم معلومه او واضح شوه چې سپارښتنې ولې نه دي تطبیق شوي. د اصلاحاتو پروسې ته هم خاصه پاملرنه وشوه چې په کې د غیر پارلماني ګوندونو، مدني ټولنې سازمانونو، ملی کارپوهانو، همکارانو او هغو کسانو چې د پروسې نه د لرې کیدو له خطر سره واقع دي په اړه معلومات ورکړل شول. همدا راز د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ارزونې او سپارښتنو ارزښت د اصلاحاتو په پروسه کې د یو اساسي پیل په حیث و پیژندل شو.

د راپور له وړاندې کولو وروسته، یو شمیر هیوادونو د ریفورمونو د پروسې په اړه سوالونه مطرح کړل؛ د مثبت بدلون په اړه یی خپل ملاتړ څرګند کړ او اساسي سپارښتنو ته یې هم پاملرنه را جلب کړه. دوی د خپلو تجربو پر اساس د دغو سپارښتنو د تطبیق په اړه هم معلومات ورکړل او دا کار د یوې مسلکي کره کتنې میکانیزم د ښو تجربو د شریکولو د وسیلې په حیث را منځ ته کړ.




# ۷. د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په اړه همغږي او ګډون

د ټاکنیزو سپارښتنو تطبیق یو پیچلی او له سیاسي پلوه حساس کار دی او کیدای شي په کې بیلابیلې خواوې دخیلې وي. له ملي سیالانو سره همکاري د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د تعقیبي فعالیتونه یوه مهمه برخه ده. دغه راز د یاد دفتر د تعقیبي فعالیتونو د ملاتړ په اړه نور میکانیزمونه هم وجود لري چې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د ادارو او یو شمیر نړیوالو مرستندویه ادارو لخوا تر سره کیږي.

د دغو فعالینو ترمنځ همغږي د ټاکنیزو فعالیتونو د اغیزمن توب په لوړولو، د ورته فعالیتونو د تر سره کولو په کمولو، د ټاکنیزې پروسې کې د تشنې د مخنوي او همدا راز د ضد او نقیض مشوره نه د مخ نیولو په برخه کې خورا مهم رول لوبوی. دا همغږی هله اغیزمنه ثابت کیدلی شي چې د غړو هیوادو په منځ کې د تعقیبي فعالیتونو په اړه ټولو ته د منلو یو جامع ستراتیژۍ وجود ولري. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د داسي همغږۍ په رامنځته کولو او د تعقیبي فعالیتونو په تیره بیا د سپارښتنو د تطبیق په شونې کولو کې ډیر مهم رول لوبولی شي.

## ۷.۱. له ملي سيالانو سره همغږي

د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيبي فعاليتونو د اغيزمنتوب او دوام لپاره له ملي سيالانو سره همغږي ډيره مهمه ده. په عام ډول کيدای شي چارواکي يو اړوند نهاد ته دنده وسپاري تر څو د سپارښتنو د لا ښه تطبيق په موخه د اړوندو ادارو تر منځ همغږي را منځته او د معلوماتو او بحثونو د شريکولو لپاره هڅې وکړي. دغه مخکښه اداره کيدای شي يو پارلماني کميسيون وي او يا داسې کاري ګروپ وي چې پکې د ټاکنو کميسيون غړی او نور ټاکنيز همکاران شامل وي. دغه اداره به د تعقيبي فعاليتونو په اړه د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر سره د تماس يوه مهمه اداره وي.

همدا راز پر ټاکنو کې ډيرې نورې ښکيلې خواووې د تعقيبي فعاليتونو په اړه مهم رول لوبولی شي لکه په خپله د ټاکنو د تنظيمولو نهادونه، سياسي ګوندونه او د څار ملي ګروپونه.

**د ټاکنو د تنظيمولو اداري (EMBs):** د ټاکنو قانون د پلي کولو د لومړي مرجعې په توګه د ټاکنو د تنظيمولو نهادونه د موجودو طرزالعملونو د قوي او ضعيفو ټکيو په اړه ځانګړي نظريات لري دا نهادونه اکثراً له ټاکنو مخکې ارزونه تر سره کوي او د راتلونکو ټاکنو لپاره استرتيژيک پلان جوړوي او په ځنې هيوادونو کې دا صلاحيت هم لري تر څو پارلمان ته په مستقيمه توګه د قانون مسوده وړاندې کړي. ياد نهادونه د ټاکنيزو تعقيبي فعاليتونو په اړه د معلوماتو يو اساسي منبع شميرل کيږي او د اصلاحاتو په پروسه کې د دغه ادارې ګډون دا حقيت په ډاګه کوي چې وړانديز شوي تغيرات شوني دي او خلکو ته د پروسې په اړه د مالکيت احساس ور ښښي.

نوري حکومتي اداري: يو شمير حکومتي اداري او عامه نهادونه لکه خبروينده ټولنه، د رسنيو د تنظيم اداري، قضايه قوه، د فساد ضد اداري، د قانون د تنفيذ اداري او د نفوس شميرنې اداري هم په دې برخه کې ورته رول لوبول شي. د ټاکنيزو اړوندو برخو په هکله د هغوي تجربې د تعقيب پروسې ته يو خاص ارزښت وربښي. برسيره پر دې دغه اداري کيدای شي نور پراخه اصلاحات چې پر ټاکنيزو سپارښتنو تاثير لري تطبيق کړي او د خلکو اعتماد کچه لوړه کړي.

**سياسي ګوندونه:** ټول پارلماني او غير پارلماني سياسي ګوندونه د پراخو ټاکنو په هکله د تشويق په برخه کې فعاله ونډه اخيستی شي. سربيره پردې دا ګوندونه کولای شي د قانون جوړونې اجندا ته لومړيتوب ورکړي او په اړه يې بحثونه او دادغوښتنه وکړي. دا يو ښکاره خبره ده چې د تعقيب پروسه له سياسي ګوندونو سره تړلې ده، په خاص ډول که چيرې دوی د سپارښتنو د تعقيب په اړه په تقنينی فعاليتونو کې دخيل وي او يا هم په پارلماني کميسيونونو کې د ټاکنيزو ريفورمونه په اړه کار کوي.

**د څار ملی ګروپونه:** د مدني ټولنې سازمانونه، ملي څارونکي او نوري اداري او کارپوهان کولای شي د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيبي فعاليتونو په څارنه او انکشاف کې مهم رول ولوبوي. دوی کولی شي د مقايسوی څيړنو، عامه مشورو، د دادغوښتنې پروګرامونو او د سپارښتنو په وړاندې کولو په دې برخه کې مرسته وکړي. دغه راز دوي کولای شي د سپارښتنو د تعقيب پروسې د بشپړتيا او روڼوالي او د هغو د تطبيق په هکله ارزونه تر سره کړي چې په نتيجه کې يې هغه ساحې چې انکشاف ته اړتيا لري مشخصې شي. د مدني ټولنې سازمانونه او د ملي څارونکي ګروپونه کولای شي د تغيراتو او تطبيق په اړه د عامه پوهاوي په ترويج کې هم مهم

رول ولوبوي. له همدې کبله د مدني ټولنې د سازمانونو شمولیت د تعقیب د پروسې یوه مهمه برخه ګڼل کیږي.

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په دوران کې له ټولو ملي سیالانو سره ښې اړیکې ساتي او کله هم یادو هیوادونه ته سفر کوي. د یاد دفتر دغه کار په ملي کچه د ټاکنیزو انکشافاتو په اړه د خلکو ګډون او پوهاوي زیاتوي او له دې دفتر سره مرسته کوي تر څو د تعقیبي فعالیتونه په پروسه کې شاملو ادارو ته لازمه مشوره ورکړي.

## ۷.۲. د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د غړو هیوادونو ترمنځ همغږي

کیدای شي د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر یو لړ تعقیبي فعالیتونه د امنیت او همکارۍ سازمان د بیلابیلو اسنادو په رڼا کې د ځنې ادراو له خوا تر سره شي چې د سپارښتنو د تطبیق په هکله مرسته کوي.

**د دفتر رییس (CiO):** د دفتر رییس پُست د اروپا د امنیت او همکارۍ سازمان د غړو هیوادونو د وزیرانو شورا د پریکړې په اساس رامنځته شوی دی. دا پُست د یوه کال لپاره دوام مومي او د بهرنیو چارو وزیر یې سرپرستي کوي. د دفتر رییس د ټاکنیزو سپارښتنو د تطبیق په هکله اړوند مسایل د ویانا په غونډه کې د غړو هیوادونو ته وړاندې کوي او همدا راز دغه هیوادونو ته د سفر پر مهال د اړوندو مسایلو په اړه له چارواکو سره بحث او سلامشوری کوی. سربیره پر دې د ټاکنو د تنظیمولو نهادونو، سیاسي ګوندونو، د مدني ټولنې سازمانونو او د رسنیو له استازو سره په دې اړه بحثونو ترسره کیږي او د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د سپارښتنو د تطبیق په هکله اعلامیې هم خپروی.

**دایمي شورا (PC):** دایمي شورا چې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان غړي هیوادونه په کې غړیتوب لري د اونې یوځل په ویانا کې غونډه کوي او د غړو هیوادونو د انکشافاتو په اړه بحث او تصمیمونه نیول کیږي. په دغه غونډو کې د ټاکنو په اړه په خاص ډول د غړو هیوادونو له خوا د سپارښتنو د تعقیب او د لومړیو اعلامیو او وروستي راپور په اړه بحثونه تر سره کیږي. د دایمي شورا مخکنیې پریکړې په دریم څپرکی کې وګورئ چې غړي هیوادونه او د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر یې تشویق کړي تر څو دایمي شورا ته د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه راپور ورکړي.

**د انساني ابعادو کمیټه (HDC):** د انساني ابعادو کمیټه چې له غړو هیوادونو څخه جوړه شوې د ټاکنیزو سپارښتنو اړوند د تعقیبي فعالیتونو د انساني ابعادو په اړه بحثونه کوي چې دغه کار د غړو هیوادونو او د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان نورو ادارو ترمنځ د معلوماتو د شریکولو زمینه مساعدوي. کله ناکله دا کمیټه د ټاکنیزو فعالیتونو د تعقیب او د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د سپارښتنو په اړه د غړو هیوادونو دواطلبانه راپوروته اروزي. دا کار د یو مسلکي کره کتنې میکانیزم را منځته کړی.

**د انساني ابعادو د تطبیق غونډه (HDIM):** دغه غونډه په اروپا کې د بشري حقوقو تر ټولو لویه کلنۍ غونډه ده چې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له خوا په وارسا کې جوړیږي او په کې دولتي مسولین، نړیوال پوهان او د مدني ټولنې استازي ګډون کوي تر څو په دې پوه

شي چې غړي هیوادونه د بشري حقوقو په اړه ژمنې څنګه عملي کوي. په دغه ژمنو کې د ټاکنو اړوند ژمنې او داسې هڅې شاملې دي چې حقوقي چوکاټ او د ټاکنو تر سره کول د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د ژمنو او نورو مکلفیتونو سره سم ارزوي.

**د انساني ابعادوسیمینارونه (HDS):** دغه سیمینارونه د غړو هیوادونو، نړیوالو سازمانونو، مدني ټولنو او نورو همکارانو تر منځ د افکارو د تبادلې لپاره زمینه مساعدوي. دغه سیمینارونه د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د سپارښتنو د تطبیق په هکله د بحث یوه ښه زمینه مساعدوي.

**د ملي اقلیتونو ستره کمیشنري (HCNM):** د ملي اقلیتونو ستره کمیشنري د ملي اقلیتونو په اړه د لانجو د رامنځته کیدو په وخت کې فعالیت کوي او هڅه کوي تر څو د شخړو او لانجو دلایل پیدا او هغو ته لنډ مهاله او اوږد مهاله د حل لاره ولټوي. که چیرې یو غړي هیواد د ملي اقلیتونو پر وړاندې خپلې ژمنې نه عملي کوي نو دغه کمیشنري د سپارښتنو د تحلیل په وسیله د هغو سره مرسته کوي. دغه راز دغه کمیشنري د همکارۍ په برخه کې یو لړ کوچنۍ پروژې تر سره کوي چې هدف یې د محلي مالکیت له لارې د انکشاف تداوم دی. په دواړو فعالیتونو کې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنیزو سپارښتنو د تطبیق هدف شامل دی.

برسیره پر دې یاده کمیشنري د ملي اقلیتونو د اړونده مسایلو په اړه کارپوهان د یاد دفتر د ټاکنیز څار د ماموریت په چوکاټ کې استوی تر څو د ټاکنیزو سپارښتنو په ترڅ کې د اقلیتونو موضوع ته پام وشي. دغه کارپوهان د څار ماموریت د راپور ورکولو په برخه کې برخه اخلي او له ټاکنو وروسته په تعقیبي فعالیتونو کې د اقلیتونو د حقونو په اړه ځانګړي سپارښتنې وړاندې کوي.

**د رسنیو د آزادۍ استازی (RFoM):** د رسنیو د آزادۍ استازی د رسنیو انکشافات څاري او له غړو هیوادونو سره مرسته کوي تر څو د بیان او رسنیو د آزادۍ په اړه خپلو ژمنو ته پام ولري. دغه راز استازی باید یو لړ نور کارونه هم تر سره کړي لکه د خبریالانو د مصئونیت، د رسنیو یووالی، د جرایمو کموالی، د یو او بل په وړاندې د بد ویلو څخه مخنوي، د رسنیو د قانون په اړه نظر ورکول او د انټرنټ آزادي تامنیول. د رسنیو د آزادۍ استازی د رسنیو سیمه‌ایزې غونډې دایروي تر څو خبریالان، مدني ټولنې، ادیبان او حکومتي مسولین یو ځای او د رسنیو د آزادۍ په هکله خبرې اترې وکړي. په دې ټولو فعالیتونو کې دغه استازي کوښښ تر څو د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په ټاکنیزو سپارښتنو غور وشي.

**سمیه‌ایزه فعالیتونه (FOs):** سیمه‌ایز فعالیتونه د کوربه هیواد په غوښتنه او د غړو هیوادونو په ملاتړ تر سره کیږي. د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د سیمه‌ایزو فعالیتونو هدف دا دی تر څو له رامنځته شوي ناورین سره مبارزه وکړي. دغه فعالیتونه کولای شي د شخړو د حل لاره ولټوي او د متاثرو ټولنو تر منځ باور را منځته کړي او د مختلفو پروژو له لارې چې د هیوادونو د اړتیاوو د تامینولو په هدف طرح شوې، د کوربه هیواد ظرفیت لوړ کړي. په سیمه‌ایزو فعالیتونو کې د ټاکنو د تنظیمولو اداري، د قانون د تنفیذ اداري، د ملي اقلیتونو د حقوقو، د ښځو د ګډون، د مدني زده کړې، تقنیني ریفورمونو، د قانون حاکمیت او له رسنیو څخه د ملاتړ پروګرامونه شامل دي. دغه راز سیمه‌ایز فعالیتونه د دې زمینه مساعدوي تر څو د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د سپارښتنو د تطبیق لپاره اوږد مهاله مرسته وکړي. په یو شمیر

سیمه‌ایزو فعالیتونو کې داسې پروژې شاملې دي چې د یاد دفتر سره د همکارۍ او همغږۍ ملاتړ کوي او د دې لپاره تخنیکي مهارتونه وړاندې کوي. سیمه‌ایز فعالیتونه او د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنیز دوران په ترڅ کې یو له بل سره نږدې اړیکې ساتي.

**د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان پارلماني شورا (OSCE PA):** پارلماني شورا کې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د غړو هیوادونو څخه کابو ۳۰۰ قانون جوړونکي سره یوځای کار کوي تر څو د همکاري او دیالوګ فضا ته انکشاف ورکړي او حساب ورکونه لا پیاوړي کړي. د پارلماني شورا غړي په ټاکنیز څار کې هم برخه اخلي؛ غړو هیوادونو ته سفرونه کوي او د ټاکنیزو سپارښتنو په اړه کار کوي. د شورا د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنیزو سپارښتنو په اړه خبرتیاوې خپروي او تعقیبي فعالیتونه ته په یوه ټاکلي هیواد کې په خاص ډول د ټاکنیزو سیالانو تر منځ انکشاف ورکوي.

### ۷.۳. د نړیوالو سازمانونو تر منځ همغږي

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ټاکنو د څار اصولو اعلامیې په چوکاټ کې د سپارښتنو تعقیبي فعالیتونه له خپلو سیالو نړیوالو ټاکنیزو څارونکو او نورو نړیوالو سازمانونو سره همغږي کوي.

**د ټاکنو نړیوال څارونکي:** په وروستیو کلونو کې د هغو سازمانونو تر منځ چې د ټاکنو د څار د اصولو اعلامیه یې تصویب کړې ده د پام وړ همغږي زیاته شوې ده. د ټاکنو د څار راپورونه اوس په منظم ډول د غړو هیوادونو تر منځ شریک کیږي او د مرکز او هیوادونو په کچه او د غړو تر منځ د ټاکنو د څار او سپارښتنو د تعقیب په اړه همغږي زیاته شوې ده. ټولو غړو هیوادونو دا منلې چې د ټاکنیزو سپارښتنو تعقیبول له هر څه نه لومړیتوب لري.

څکه نو د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په هکله غړو هیوادونو یو لړ اقدامات تر سره کړي تر څو په دې برخه کې خپله همکارۍ زیاته کړي. دغه په دغه اقداماتو کې د سپارښتنو د تعقیب په هکله د پلان جوړونه؛ د غړو تر منځ د لیدو کتو؛ د ټاکنو د څار په ترڅ کې د غړو ترمنځ د غونډو دایرول او نورو مسایلو ته پاملرنه شامل دي. دغه راز د ټاکنو د څار د اصولو د اعلامیې غړو دا هڅه کړې تر څو هیوادونه تشویق کړي چې د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه د منطقوي او جهاني میکانیزمونو له لارې راپورونه وړاندې کړي.

نړیوال سازمانونه: د ټاکنو په اړه د دولتي ارګانونو تر منځ د سیاسي روابطو په هکله همغږي او په دې اړه د اعلامیو خپرول د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له همیشنیو فعالیتونو څخه دي. دغه راز له ټاکنو وروسته بیانیې د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د پارلماني هیأتونو، اروپایي شورا، اروپایي پارلمان او څنې وخت ناټو سره په همغږۍ خپریږي. دغه سازمانونه د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه مهم رول لوبولي شي. د ټاکنیزو فعالیتونو په ترڅ کې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر تر ډیره بریده د خلکو پاملرنه د نورو سازمانونو راپورونه او سپارښتنو ته را اړوي.

- **ملګري ملتونه**

ملګري ملتونه د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان له نږدې همکارانو څخه ګڼل کیږي چې د

دغه همکارۍ چارې د دوارو سازمانو تر منځ د ۳۹۹۱ د همکارۍ او همغږۍ د چوکاټ پر اساس تعقیب او تنظیمیږي. په همدې کال کې د ملګرو ملتونو سازمان د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ته د څارونکې موقف ورکړل. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د ملګرو ملتونو د ځنې ادارو سره د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه یو ځای کار کوي. دغه اداري لکه د ټاکنیزو مرستو او سیاسي چارو واحد، د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام او د ملګرو ملتونو د ښځو چارو دفتر، او ملګرو ملتونو د سیاسي چارو د ټاکنو څانګه شامل دي. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له یادو ادارو سره د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه د ورکشاپونو او ګردیو میزونو د دایرولو له لارې خپلې همکارۍ ته دوام ورکوي. ملګري ملتونه د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو د ټاکنیزو سپارښتنو او راپورونو څخه د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د راپورونو او د تړونونو د ادارو لخوا د یوې منبع په حیث کار اخیستل کیږي.

• **اروپایي شورا**

اروپایي شورا او د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان یو ګډ هدف تعقیبوي چې هغه په اروپا کې د دیموکراسۍ پر بنا د ثبات ټینګښت، د قانون حاکمیت او بشري حقونو ته درناوی دی. د دوارو ادارو تر منځ د همکارۍ بنسټ په ۲۰۰۰ کال کې د عامه همکارۍ د تفاهم لیک په واسطه چې د اړوندو سکرتر جنرالانو له خوا لاسلیک شوه، کیښودل شو. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له اروپایي شورا سره د همکارۍ یو خاص تړون لاسلیک کړی چې د هغې پر اساس دواړه خواووې د بشري حقونو او ټاکنیز فعالیتونه په اړه له یو بل سره همکاري کوی. دغه شورا په براخه توګه د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیبولو په برخه کې ښکیل ده او په دې برخه کې د ټاکنو د تنظمیولو ادارو، ټاکنیزو محاکمو او یو لړ نور سازمانونو سره د تخنیکي مشورو په ورکولو مرسته کوي. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له اروپایي شورا سره یو ځای د ټاکنیزو اصلاحاتو په هکله ګردي میزونه او سمینارونه دایروي. همدا راز یاد دفتر د Venice کمیسیون د شورا سره د ټاکنو اړوند قوانینو په هکله نظریات وړاندې کوي.

• **اروپایي اتحادیه**

د اروپایي اتحادیې غړې هیوادونه او اروپایي کمیسیون د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان له سترو همکارانو څخه دي چې د یاد سازمان د پوښښ په سیمه کې د بشري حقونو پروژې تمویل او عملي کوي. اروپایي اتحادیه په دې سازمان کې د یوه هیات له خوا چې د اروپایي اتحادیې مشري هم کوي استازیتوب لري. له ۹۰۰۲ کال را په دې خوا اروپایي اتحادیه د غونډو په لاره اچولو سره د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب پر اهمیت ټینګار کوي. اروپایي اتحادیې د ۵۱۰۲ کال د بشري حقوقو او دیموکراسۍ په کاري پلان کې د ټاکنو څخه د نړیوال څار اعلامیې څخه خپل ملاتړ اعلان کړ او دا یې ومنله چې له نړیوالو سازمانونو سره به د ټاکنیزو سپارښتنو د تطبیق په هکله یو ځای کار کوي. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له ټاکنیزو سپارښتنو څخه تر ډیره حده د اروپایي اتحادیې په اعلامیو، د پالیسۍ په اسنادو او مالي سندونو کې یادونه کیږي. اروپایي اتحادیه د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له ټاکنیزو سپارښتنو څخه په منظم ډول ملاتړ کوي او د اروپایي اتحادیې د غړو هیوادونو په سیاسي خبرو اترو او ملاتړیز فعالیتونو کې د دغو سپارښتنو د ادغام غوښتنه کوي.

• **نور نړیوال سازمانونه**

د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر له نورو نړیوالو سازمانونو سره چې د ټاکنیزو سپارښتنو تعقیب ته ژمن دي همکارۍ ته چمتو دی. دغه کار د هغو غړو سازمانونو لکه د

مشرک المنافع مستلقو هیوادونو، د امریکایی هیوادونو سازمان او دموکراسي او ټاکنو ته د مرستی کمیسیون او IDEA لپاره چې د اروپا امنیت او همکاری سازمان غړیتوب لري د خاص ارزښت لرونکی دی.

د ناټو په اړه هم اړیکي ټینګي شوې دي تر څو سیاسي او عملیاتي دیالوګ په عملي ډګر کې تر سره شي. کیدای شي ناټو د ټاکنیزو سپارښتنو پر تعقیب باندې کار وکړي او انکشاف ورکړي په خاص ډول کله چې د امنیت په اړه بحث مطرح کیږي.

## ۷.۴. له مرستندویه او دیپولوماتیکي ټولني سره همغږي

نړیوال مرستندویه سازمانونه او د دیپولوماتیکې ټولنې غړي د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په هکله اساسي رول لوبوي.

**مرستندویه ټولنه:** د نړیوال پرمختګ شریکان تل له ټاکنیزو پروسو سره د «تطبیق مؤسسو» له لارې تخنیکي مرستې کوي. دا کار کله ناکله له ستونزو سره مخ کیږي په تیره بیا کله چې د اوږدمهاله ظرفیت جوړوني پروژو د تمویل پر ځای له مرستندویه ټولنې څخه د سم د لاسه ټاکنو بهیر لپاره د عملیاتي مرستې غوښتنه وشي. د نړیوال پرمختګ شریکان کولای شي د ټاکنیز دوران د روش په تعقیبولو او د تغییر په خاطر د معیارونو په پلي کولو سره د سپارښتنو د تطبیق په اړه ډیر مؤثر ثابت شي.

د ټاکنیز دوران په تګلاره کې له ټاکنو وروسته د اړتیاوو ارزونه شامله ده چې باید د نړیوالو او د ملي څارونکو ګروپونو د سپارښتنو په پام کې نیولو سره له راتلونکو ټاکنو مخ کې تر سره شي. په دې کې باید د ټاکنو په هکله د سنجش وړ معیارونه او اهداف شامل وي. د نړیوال پرمختګ شریکان دغه راز کولای شي له تشویقي لارو د سپارښتنو تطبیق لا پیاوړی کړي. د مرستندویه ټولنو منځ مهاله ارزونه او بیا کتنه د پرمختګ د ارزونې او د پروګرام د ملاتړ او سیاسي دیالوګ له لارې کولای شي ډیره ګټوره ثابته شي.

**دیپلوماتیکه ټولنه:** پیلوماتیکه ټولنه کولای شي د سپارښتنو تعقیب ته پاملرنه را جلب کړي او خپل حضور په ملي سیاسي آجندا کې ثابت کړي. د نړیوالو مکلفیتونو او ستندردونو مطابق د ټاکنو په تر سره کولو کې د بهبود په اړه معلومات خپرول او خاصو مطالبو ته پاملرنه کول کولای شي د سپارښتنو د تعقیب په هکله اقدامات لا ګړندي کړي. دغه راز د پیلوماتیکه ټولنه کولای شي د دایمی شورا، د انساني ابعادو کمیټه او د بشري حقونو میکانیزمونو ته راپور ورکول تشویق کړي تر څو د دولت حساب ورکول لا ښه شي او چارې د بشري حقوقو د اسنادو سره سم تر سره شي. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر کولای شي دا شان سیاسي خبرتیاوې د تعقیبي فعالیتونو او د سپارښتنو د عملي کولو په ارتباط د منظمو معلوماتو په ورکولو سره تشویق کړي.




# ۸ . د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب ارزونه

د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب ارزونه د ټاکیز دوران په مختلفو مرحلو کې ډیر اهمیت لري. د ټاکنو له دوران څخه مخکې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د اړتیاوو د ارزونې ماموریت د وضعیت د ارزونې وروسته پریکړه کوي چې د ټاکنو څار څرنګه تر سره کړي او د څار ټیم هیواد ته ولیږل شی یا نه. د ټاکنو په دوران کې د تیرو سپارښتنو د تعقیب څرنګوالۍ د ټاکنیز څار په وروستنې ارزونه کې خورا مهم رول لوبی شی. له ټاکنو وروسته دوران کې د سپارښتنو بیاکتنه او ارزونه کیدای شي د ټاکنیزو ننګونو او په راتلونکو کې د ټاکنیزو اصلاحاتو په اړه د لیوالتیا په پوهیدو کې ډیره ګټوره ثابته شي.

د سپارښتنو د تعقیب په بیا ارزونه کې باید له احتاط څخه کار واخستل شي او عادلانه پریکړې او قضاوت تر سره شی. ځکه چې ښایی د ټاکنو ځنې مراحل لا نه وي تر سره شوي. د یوې دقیقې ارزونې لپاره لاندې شاخصونه باید په پام کې و نیول شي. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر برسیره، کیدای شي د اړوند هیواد چارواکي، مدني ټولنې، رسنیی، نړیوال مرسته کوونکي ادارې او نورو نړیوالو فعالینونو له خوا د سپارښتنو د تعقیب ارزونه تر سره شي.

**۱. د ارزونې لپاره د سپارښتنو پيژندنه:** په داسې ارزونو کې تر ډيره بريده د وروستيو ټاکنو اړوند سپارښتنې ارزول کيږي خو ښايي کله هم د تيرو ټاکنو سپارښتنې وارزول شي. د مثال په توګه، د محلي ټاکنو لپاره به دا ډيره ګټوره وي چې نه يوازې د ورستنيو ټاکنو سپارښتنو ته کتنه وشي بلکې د ډيرو پخوا وختونو د ټاکنو سپارښتنې هم په پام کې ونيول شي. دغه راز دا به هم له ګټې خالي نه وي چې د نورو ملي او نړيوالو څارونکو سپارښتنې په پام کې ونيول شي؛ ولې په دې شرط چې دغه سپارښتنې معتبر وي او يا هم داسې سپارښتنې وي چې هغه د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په راپورونو کې نه وي راغلي.

**۲. له يو شمير ښکيلو خواوو سره خبرې کول:** د ټاکنو د چاپيريال او د حقوقي چوکاټ د بدلون په هکله بايد له يو شمير ښکيلو خواوو سره خبرې وشي. دغه خبرې بايد د دولت او ټاکنيزو نهادونو د استازو، سياسي ګوندونو، رسنيو، د مدني ټولنې استازو او د اقليتونو له ګروپونو سره د غونډولو لړې تر سره شي. ښايي په دې غونډو کې د يو شمير ټاکنيزو سپارښتنو په اړه د اقداماتو په هکله خبرې وشي چې د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د سپارښتنو لپاره مستقيم ځواب ور نشي کړای.

**۳. د سپارښتنو د تطبيق د کچې ارزونه:** د ټاکنيزو سپارښتنو د عملي کولو او تعقيبولو د کچې په بحث کې بايد د سپارښتنو د پوره عملي کيدو، قسمي عملي کيدو او يا د نه عملي کيدو په هکله ارزونه وشي. که څه هم نتيجويي ارزونه تل ممکنه نه ده ځکه د پروسې هغه مرحله چې په هغه کې سپارښتنو ته پاملرنه کيږي ښايي پيل شوې نه وي او يا هم د پيل کيدو په درشل کې وي. په ځنې حالاتو کې کيدای شي د ځنو پراخو سياسي انکشافاتو له امله د يوې سپارښتنې نيټه تيره شوې وي. د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو د ټاکنيزو سپارښتنو په اړه د غړي هيواد د ژمنو په پام کې نيولو سره، ځنې سپارښتنې چې اړوند هيواد يې مناسبې نه بولي او يا هم د هغو په پلي کيدو کې ستونزې لرې بايد په اړه يې له اړوند چارواکو سره بحث وشي او د نه عملي کيدو فکتورونه يې بايد ياد داشت شي.

**۴. په ټوليز انځور پوهيدل:** د ارزونې د تر سره کولو لپاره بايد ټولو لازمو شرايطو لکه د غړي هيواد سياسي او امنيتي اوضاع، د سپارښتنو د وړانديز او ټاکنو د تر سره کولو ترمنځ وخت، نوي ټاکنيز انکشافات چې په دغو سپارښتنو کې نه وي ذکر شوي او هر بل اصلاحي اقدام ته په پوره توګه پاملرنه وشي. دغه راز هغه سپارښتنې چې نه دي عملي شوي هم بايد تشخيص شي او دا و پتيل شي چې لومړيتوب لري او که نه؛ آيا حقوقي بدلون په کې شامل دي او که نه؛ کوم سازمانونه او اداري يې د پلي کيدو مسئوليت لري؛ آيا پروسه جامع وه او که نه؛ آيا د تعقيب پروسه له ټاکنو څخه مخکې بشپړه شوې او که نه؛ او آيا پدې پروسه کې د رايه اچونکو او ټاکنيزو کارمندانو د اروزنې په اړه معلومات شريک شوي و او که نه؛ او داسې نور معلومات. د يادونې وړ ده چې دا حقيقت بايد درک کړای شي چې ټاکنيز همکاران د تطبيق شويو سپارښتنو اهميت تر کومه حده درک کوي او آيا دغه کار د راتلونکو ټاکنو په اړه اعتماد رامنځ ته کوي او که نه او يا هم د راتلونکو ټاکنو د ستونزو په هکله اندېښنې پيدا کوي او که نه. د تعقيب په اړه ارزونه نه يوازې د سپارښتنو د تطبيق بشپړتيا په پآم کې و نيسي، بلکې د مجموعی بدلونو تاثيراتو ته هم بايد بشپړه پاملرنه وکړي.

دې ته په پام لرنې سره چې د سپارښتنو د تطبيق نتيجوي ارزونه هميش ممکنه نه ده، خو دغه ارزونې تر ډيره بريده د حقايقو د تعريف کولو پر ځای هغوی ته يوازې اشاره کوي. ارزونې بايد

پر سپارښتنو کې پر لومړیتوبونو تمرکز وکړي تر څو د دغو  لومړیتوبونو نه تعقیبول راتلونکو ټاکنیزو پروسو ته خطرونه متوجه نه کړي.




# ۹. په سياسي ډګر کې د لږکيو ډلو (اقليتونو) ګډون ته پراختيا ورکول

د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان په ډېرو ژمنو او نړيوالو مکلفيتونو کې د تبعيض د مخنوي او په عامه او سياسي ژوند کې د خلکو ګډون ته د پراختيا ورکولو په اړه حکمونه شامل دي. دا حقيقت بايد د غړيو هيوادونو د سپارښتنو د تعقيب په پروسه کې هم روښانه وي. د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په منظم ډول هڅه کوي تر څو په تعقيبي فعاليتونو کې د اقليتونو ګروپونه ګډون او شتون تضمين کړي.

### ۹.۱ د لږکيو ډلو (اقليتونو) ګډون د پراختيا ورکولو په اړه د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان ژمنې او نور نړيوال مکلفيتونه

ملي اقليتونو هغه ډلې دي چې د بيلابيلو دلايلو له امله له سياسي پروسو څخه لرې ساتل شوي وي. د بشري حقونو په اړه ډېر ملي او نړيوال اسناد د داسې ډلو له حقونو څخه ساتنه کوي؛ ځنې ځانګړي سندونه يوازې د ملي اقليتونو، ښځو او معلولينو د ګډون په اړه خبرې کوي.

### ښځې

د اروپا امینت او همکارۍ سازمان ژمنې او نور نړیوالو مکلفیتونه دا حقیقت په ډاګه کوي چې نارینه او ښځې باید په ټاکنیزو بهیرونو کې یو شان او مساوي حقونو ولري. په سیاسي او عامه ژوند کې د ښځو ګډون په هکله د اروپا امینت او همکارۍ سازمان د ۹۰۰۲ کال د وزیرانو شورا پریکړه هم دغه حکم کوي او له غړو هیوادونو څخه غواړئ چې په دې هکله ممکن قانوني اقدامات تر سره کړي تر څو نارینه او ښځې په سیاسي او عامه ژوندانه او پریکړو کې له یو شان او مساوي حقونو څخه برخمن وی. له هغو اسنادو څخه یو هم د ښځو پر وړاندې د ټولو تبعیضونو د مخنیوي کنوانیسیون (CEDAW) دی چې د ښځو حقونو له نارینه و سره مساوي ګڼې او هغوي ته دا حق ورکوي چې د دولت د پالیسیو په جوړولو او تطبیق کې فعاله ونډه واخلي[7]. دا حقیقت د CEDAW کمیټې په تشریحاتو کې په خاص ډول د سیاسي ګډون په هکله په ۳۲ شمیره وړاندیز کې په ډاګه شوی دی. له دغه وړاندیز څخه دا ثابتیږي چې د ښځو نظریات باید د دولت د پالیسیو په جوړولو او تطبیق کې په جدي توګه په پام کې ونیول شي تر څو د پالیسیو جوړول په جامع ډول تر سره شي او په تړون کې ذکر شوي حکمونه عملي شي.

### ملي اقلیتونه

د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ژمنې او نور نړیوال سندونه د ملي اقلیتونو په عامه ژوند کې د ګډون حقونو پرته له کوم تبعیض څخه پیژني چې په کې د دوي خپله ژبه کارول هم شامل دي. د یاد سازمان په ژمنو کې د کوپین هاګن د ۰۹۹۱ کال د سند ۵۳ پراګراف د ملي اقلیتونو په عامه ژوندانه کې د ګډون د حقونو په اړه ټینګار کوي. دا سند د "نژادي تبعیض د ټولو ډولونو د مخنیوي نړیوال کنوانسیون (ICERD)" د ۵ مادې تصدیق کوي چې له غړیو هیوادونو څخه غواړئ تر څو ټولو اتباعو ته د دولت په جوړولو او د عامه ژوندانه په ټولو سطحو کې د نژادي توپیر، رنګ او قومي اصلیت په پام کې نیولو پرته د ګډون حق ورکړي. دغه راز دا حقیقت د CERD سند د ۲۳ عام وړاندیز مصداق دی چې له متاثره ټولنې سره د حقوقي چوکاټ د تعدیل په اړه د مشورې غوښتنه کوي. ۲۳ عام وړاندیز د رنګ، قومي اصلیت او نژاد په اړه تقسیم شویو معلوماتو ته اشاره کوي او غواړي دغه اشخاص د ICERD د مؤثر تطبیق لپاره د پالیسیو په جوړلو کې ونډه واخلي. د CERD سند ۷۲عام وړاندیز اقلیتونو ته د داسې پالیسیو په جوړولو او تطبیق ټینګار کوي تر څو د دغو اشخاصو ګډون پراختیا و مومي.

### معلولین

د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان OSCE د ۱۹۹۱ کال د مسکو سند په۱۴ پراګراف کې ګډونکونکو هیوادونو دا ژمنه کړې چې د معلولینو له بشری حقوقو څخه به دفاع کوي، چې په پریکړو کې د دوی ګډون هم شامل دی. په نړیواله کچه، په CRPD کې هم په سیاسي چارو کې د معلولینو د ګډون په هکله احکام شامل دي. ۴.۳. ماده له ګډون کونکو دولتونو څخه غواړي تر څو د معلولینو سره مشورې وکړي او په پریکړو کې یې شامل کړي. دغه راز ۱۳ ماده د ارقامو د ویش غوښتنه کوي تر څو چارواکي قادر شي چې داسې پالیسۍ جوړې کړي چې د CRPD په تطبیق کولو کې مرسته وکړي.

۷ د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ۱۹۹۱ د مسکو د سند ۰۴ پراګراف وګورئ چې د یاد سازمان غړي هیوادونه ژمن ګڼي تر څو د ښځو د ګډون په هکله اقدامات تر سره کړي، دغه راز د کال ۹۹۹۱ د استانبول سند ۳۲ پراګراف وګورئ چې غړي هیوادونه په پالیسۍ جوړولو کې د جندر مساواتو ته ژمن ګڼي.

## ۹.۲. د ټاکنيزو سپارښتنو د تعقيب په پروسه کې د اصلاحاتو له لارې د لږکيو ګډون ته پراختيا ورکول

هغه ځوک چې تعقيبي فعاليتونه تر سره کوي بايد په دې پوه شي چې د ټاکنيزو پروسو او ريفورمونو پايلې بايد په ټاکنو کې د اقليتونو ګډون تشويق کړی. په دې اړه بايد داسې فعاليتونه تر سره شي ترڅو (۱) تعقيبي فعاليتونه بايد د داسې ميکانيزم درلودونکي وي تر څو اقليتونه د تعقيبي فعاليتونو په پريکړو کې شامل کړي؛ (۲) د ويشل شويو معلوماتو په اړه له احکامو څخه ګټه واخيستل شي تر څو په آګاهانه توګه پاليسۍ جوړې شي.

په لومړي قدم کې د ټاکنيزو سپارښتنو په پروسه کې د اقليتونو ګډون بايد له سياسي پلوه ډير پر مفهومه شکل وي، نه په سطحي توګه. په دې اړه بايد له پراخو ګروپونو سره کار وشي او معلومات مخکې له مخه تيار سوي وي تر څو د هغوي انتخاب په ښه توګه معلوم شي او د دوي سوالونو او سپارښتنو ته وخت ورکړل شي. داسې مشورې بايد په منظم ډول تر سره او ثبت شي. له سياسي پلوه د اقليتونو ګروپونو په اړه بايد خاص اقدامات تر سره شي چه په کې د اقليتونو په ژبه د موادو تيارول هم شامل دي. دغه راز معلول اشخاص بايد غونډو ته هم لاس رسی ولري. د اقليتونو ګروپونه بايد د سپارښتنو او ريفورمونو په موثريت او د تطبيق په ارزونه کې هم شامل کړای شي. د غه ريفورمونو اکثراً د اقليتونو ګروپونو د ګډون د ښه والي په خاطر منځ ته راغلي دي. د مثال په ډول دغه شان ريفورمونه د خاصو اقداماتو له طريقه تر سره کيږي.

دوهم، د اقليتونو او لږې ساتل شويو ګروپونو د ټاکنيز ګډون په موخه له ويشل شويو معلوماتو څخه استفاده کول کيدای شي د موجودو اقداماتو په ارزونه کې ګټور تمام شي او د دوي د ګډون په هکله بحثونو ته انکشاف ورکړي. په هر صورت، د معلوماتو په ټولولو او ساتلو کې بايد د معلوماتو د حفاظت له ستندردونو څخه کار واخيستل شي. که چيرې تقسيم بندي شوي معلومات نه وي موجود، د تعقيبي فعاليتونو لپاره بايد داسې ميکانيزم په پام کې ونيول شي چې د ريفورمونو موثريت او د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان ژمنې او نړيوال مکلفيتونه د هغو په واسطه و ارزول شي. په تقسيم بندې شويو معلوماتو کې بايد ټاکنو د تنظيمولو ادارې، مدني ټولنه، سياسي ګوندونه او نورې ټاکنيزې ادارې شاملې وي.

په تعقيبي فعاليتونو کې د اقليتونو ګروپونو شموليت او د تقسيم بندي شويو معلوماتو له لارې د دوی د ګډون څارنه په ټاکنيزو پروسو کې د ټولو اتباعو د موثر ګډون لپاره يو مهم شرط دی.

# ضمايم

# ضمیمه (A): د ټاکنیزو سپارښتنو د تعقیب په اړه د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ژمنې او نور نړیوال مکلفیتونه او معیارونه

## د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ژمنې

### د Helsinki وروستنی قانون، کال ۵۷۹۱

(...) غړي هیوادونه به د ملګرو ملتونو د منشور او د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې د اصولو او اهدافو سره سم د اساسي آزادۍ او بشري حقوقو په برخو کې فعالیت تر سره کوي. دغه راز دوي به د نړیوالو اعلامیو او تړونو په رڼا کې خپل مکلفیتونه عملي کوي چې پکې د بشري حقونو نړیوال میثاق هم شامل دی چې دوی یې باید رعایت کړي.

### د مادرید سند، کال ۸۳۹۱

غړي هیوادونه د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې، د بشري حقوقو د نړیوال میثاق او نورو اړوندو نړیوالو اسنادو اهمیت تاییدوي او هغه به د بشري حقونو او آزادۍ د تامین لپاره په ټولو فعالیتونو کې رعایت کوي. دغه راز له غړو هیوادونو څخه غوښتنه کیږي تر څو د نړیوالو اعلامیو او تړونونو مکلفیتونه عملي کړي او که تر اوسه یې نوي تصویب کړي نو باید تصویب یې کړي.

### د کوپین هاګن سند، کال ۰۹۹۱

(۵) [غړي هیوادونه] په ډاګه اعلانوي چې د انساني کرامت او مذهبي آزادۍ لپاره د عدالت له اړینو عناصرو څخه، لاندې ټکیو ته اشاره کیږي.

( ۵.۷ )- بشري حقونو او بنسټیزه آزادۍ به د نړیوالو قوانینو د مکلفیتونو سره سم د قانون له خوا تضمین کیږي.

( ۵.۸ )- هغه قوانین او مقررات چې د عامه ټول پوښتنې په ترڅ کې تصویب کیږي، باید د یو اساسي شرط په توګه نشر شي او ټول خلک ورته لاس رسی ولري.

( ۷.۱)- ټاکنې د قانون سره سم او په مناسب وخت کې تر سره شي.

**د پاريس سند، کال ۰۹۹۱: د نوي اروپا لپاره د پاريس اساسنامه**

(۱) د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د غړو هيوادونو ترمنځ د ټاکنو په اړه د معلوماتو د تبادلې او د اړيکو د ټينګولو مسئوليت لري. ياد دفتر بايد د دې سند د ۷،۶ او ۸ پراګرافونو تطبيق چټکوي.

**د مسکو سند، کال ۱۹۹۱**

غړي هيوادونه ټينګار کوي چې د بشري حقوقو اړوند موضوعات، اساسي آزادي، ديموکراسي او د قانون حاکميت د نړيوالو انديښنو وړ خبرې دی او دغو حقونو ته درناوی د نړيوال نظم بنسټ تشکيلوي. دغه هيوادونه په ډاډ سره اعلانوي چې د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان د بشري حقونو په برخه کې چې کومې ژمنې شوې د ټولو غړو هيوادونو لپاره د پام وړ دي او يوازې د اړوند هيواد کورنۍ چارې نه بلل کيږي. غړي هيوادونه ټينګار کوي چې د بشري حقوقو په برخه کې چې کومې ژمنې شوې هغه به عملي کوي او ټول اړوند مسايل به په سولهايزه توګه په ګډه او انفرادي ډول حل کوي. دوي دغه راز ټينګار کوي چې د دوامدره پرمختګ لپاره په اړوندو پروسو کې د خلکو، اړوندو سازمانونو او ادارو فعال ګډون ډير مهم دی.

( ۸۱.۱ ) قانون به د يوې خلاصې پروسې په نتيجه کې تصويب کيږي په دی برخه کې بايد د خلکو اراده په مستقيم ډول او يا د هغوي د استازو له لارې تمثيل شی.

**د اسلو سند، کال ۸۹۹۱**

۲ ضميمه: د نويو امنيتي خطرونو او ننګونو، بشري حقونو او ټاکنو په اړه د اروپا د امنيت منشور لومړنی چارچوب

(۴) غړي هيوادونه بايد د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر سپارښتنې له ټاکنو وروسته په فوري ډول تعقيب کړي. ياد دفتر بايد له اړوندو هيوادونو سره د سپارښتنو د تعقيب په هکله مرسته وکړي او د تطبيق په اړه يې دايمي شورا ته راپور وړاندې کړي.

**د استانبول سند، کال ۹۹۹۱**

(۵۲) موږ يو ځل بيا ټينګار کوو چې د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان ژمنو سره سم خپل مکلفيتونه د کوپين هاګن د ۰۹۹۱ کال سند مطابق د آزادو او عادلانه ټاکنو د تر سره کولو په اړه تر سره کوو. موږ د ديموکراتيکو بنسټونو او بشری حقونو دفتر مرسته له غړو هيوادونو سره د ټاکنو قانون د تطبيق په اړه ستايو. موږ د دغه ژمنو په رڼا کې نړيوالو سازمانونو څارونکو ته بلنه ورکوو تر څو زموږ له ټاکنو څخه څارنه وکړي. موږ دا منو چې د ديموکراتيکو بنسټونو او بشرې حقونو دفتر د ټاکنيزو سپارښتنو ارزونه به کوو.

(۷۲) غير دولتي سازمانونه د بشري حقوقو، ديموکراسۍ او د قانون حاکميت د انکشاف په هکله مهم رول لوبولی شي؛ ځکه هغوي د مدنې ټولنې يو نه بيليدونکې برخه ده. موږ ژمنه

کوو چې د مدني ټولنې ظرفیت به لوړوو او آزادۍ او بشري حقونو ته به درناوی کوو.

**د Porto سند د ۲۰۰۲ کال (د وزیرانو شورا)**

۷ شمیره پریکړه، ټاکنیزې ژمنې

د وزیرانو شورا یو ځل بیا ټینګار کوي چې دغه ژمنې به عملي کوي او د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر مرسته له غړو هیوادونو سره د ټاکنو قانون د ژمنو د تطبیق په اړه ستایو. پر غړو هیوادونو غږ کوو تر څو د ټاکنیز څار څخه وروسته د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر سپارښتنو په اړه خپل ځواب لا پیاوړی کړي.

**د ماسټریچټ سند، کال ۳۰۰۲**

۳۰/۵ شمیره پریکړه، ټاکنې

د وزیرانو شورا (...) د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر ته دنده سپاري تر څو د غړو هیوادونو سره د یاد دفتر په راپور کې د ذکر شویو سپارښتنو د تعقیب په اړه د مرستو د موثریت لپاره لارې چارې و لټوي او د پرمختګ په اړه یې دایمي شورا ته راپور وړاندې کړي.

**د بروکسل سند، کال ۶۰۰۲**

۶۰/۹۱ شمیره پریکړه، د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د اغیزمن توب لوړوالی ( ۲ برخه)

د وزیرانو شورا

)۲) تصدیق کیږي چې د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د خپلو پروګرامونو په تطبیق کې خپله پیاوړتیا ښکاره کړې او غړي هیوادونو سره یې د بشري حقونو په اړه د ژمنو په عملي کیدو کې مرسته کړې دی.

(۳) غړو هیوادونو ته وویل کیږي چې خپل فعالیتونه د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د ژمنو سره سم تر سره کړي.

(۴) د ژمنو د عملي کیدو څرنګوالی په هکله پاملرنه وشي او په دې ټینګار کوي چې غړي هیوادونه د ژمنو د تطبیق په هکله مسولیت لري. د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر په دې برخه کې مهم رول لوبوي.

(۵) دایمي شورا ته د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر او د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د سپارښتنو په پام کې نیولو سره دنده ورکوي تر څو د تطبیق په وړاندې په راپور کې ذکر شوی ننګونو ته د حل لاره ولټوی.

(۷) د غړو هیوادونو سره د ټاکنیزو فعالیتونو په د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو

دفتر مرسته درک کوي چه په کې د ټاکنو قانون ته کتنه او د ټاکنو څار هم شامل دي.

**د آستانه د ۲۰۱۰ کال اعلامیه: د باثباته ټولنې په لور**

(۲) موږ د ملګرو ملتونو د منشور او د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د ټولو نورمونو، اصولو او ژمنو پر منولو ټینګار کوو. موږ د هلسینکي قانون، د پاریس اساسنامه، د اروپایي امنیت شورا اساسنامه او د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان نور سندونه ته ژمن یو. موږ د یادو اسنادو تطبیق او عملي کول خپل مسئولیت ګڼو. موږ یو ځل بیا په دې سند کې د امنیت او همکارۍ پر مفهوم ټینګار کوو چې د سولې، بشري حقونو او آزادۍ سره تړاو لري او اقتصادي او محیطي همکاري د بین الحکومتي اړیکو سره نښلوي.

**نړیوال اسناد**

**د بشري حقوقو اعلامیه، کال ۱۹۴۸**

۲۱مه ماده

۱. هر وګړی حق لري تر څو د هیواد په دولت کې په مستقیمه توګه او یا هم د خپلو استازو له طریقه برخه واخلي.

۲. هر وګړی په هیواد کې عامه خدماتو ته د لاس رسي حق لري.

۳. د خلکو اراده باید د دولت د قوت اساس وي. دغه اراده باید د دوراني ټاکنو له لارې څرګنده شي. ټاکنې باید د سري او مساویانه رای اچونې په ترڅ کې تر سره شي.

**د سیاسي او مدني حقوقو په اړه نړایوال میثاق، کال ۱۹۶۶**

۲۵مه ماده

هر وګړی کولی شي په ۲ ماده کې د مندرجو تفاوتونو او محدودیتونو څخه پرته په لاندې ډول د فرصت لرلو حق ولري:

(الف) په مستقیمه توګه او یا هم د استازو له طریقه په عامه چارو کې ګډون ولرې.

(ب) په دوراني ټاکنو کې د رایه اچولو حق ولرې. ټاکنې باید د سري او مساویانه رایو اچونې په ترڅ کې تر سره شي. په دغه ټاکنو کې باید د رایه اچونکو د بیان او ارادې آزادي تمثیل شي.

(ج) په هیواد کې عامه خدماتو ته د لاس رسي حق درلودل.

**د هر ډول نژادي تبعیض د له منځه وړولو په اړه نړیوال کنوانسیون، کال ۶۶۹۱**

۵ مه ماده

د دې کنوانسیون په ۲مه ماده کې د مندرجو اساسي مکلفیتونو سره سم، غړي هیوادونه ژمنه کوي چې هر ډول نژادي تبعیض به له منځه وړي او د ټولو اتباعو حقوق به له نژادي توپیر، رنګ، قومي اصلیت پرته تامینوي. نور حقوق په لاندې ډول دي (...) :

(سی ) سیاسی حقوق په خاص ډول د نړیوالو اصولو پر بنا په ټاکنو کې د ګډون حق ولری تر څو د سری رایه له لارې خپل رایه وکاروی او یا په ټاکنو کې ګډون وکړی؛ رایه ورکول، په حکومت او عامه چارو کې ونډه اخیستل تر څو عامه خدماتو ته په مساوي ډول لاسی رسی وشي.

**د ښځو په وړاندې د هر ډول نژادي تبعیض د له منځه وړولو په اړه د ۹۷۹۱ نړیوال کنوانسیون**

۷مه ماده

غړي هیوادونه باید د ښځو په وړاندې د هر ډول نژادي تبعیض د له منځه وړولو لپاره په سیاسي او عامه ژوند کې مناسب اقدامات تر سره کړي. دوی باید ښځو او نارینه وو ته د مساویانه حقونو له تامین څخه ډاډ حاصل کړي.

(الف) په عامه ټاکنو او نورو ټاکنیزو بهیرونو کې د رایه ورکولو حق ولري او په ټاکنو کې ځان کاندید کړی.

(ب) د دولت د پالیسیو په جوړولو او تطبیق کې برخه واخلی او په مختلفو سطحو د عامو خدماتو ادارو کی په کار وګمارل شي او په هر کچه د عامه فعالیتونو واک ولری.

(ج) په هیواد کې د سیاسي او عامه ژوندانه اړوند په غیر دولتي سازمانونو کې ګډون کول.

**د معلولینو د حقوقو په اړه نړیوال کنوانسیون، کال ۶۰۰۲**

(۴.۳) د دې کنوانسیون د تطبیق او د قانون او پالیسیو د جوړولو او تطبیق په هکله او همدا راز د معلولو اشخاصو اړوند نورو پریکړو په پروسو کې غړی هیوادونه باید د معلولینو سره مشوره وکړي؛ چې پکې د معلولینو ماشومانو سازمانونه هم شامل دي.

**په عامه چارو کې د ګډون، د راي اچولو او عامه خدماتو ته په مساویانه ډول د لاس رسي د حقوقو د بشري حقوقو د کمیټې ۵۲ تبصره، کال ۶۹۹۱**

(۵) د عامه چارو تر سره کول یو پراخ مفهوم دی چې له سیاسی قدرت سره تړاو لري؛ په خاص ډول د تقنینی، اجراییوی او اداري قدرت سره. دغه ساحه د عامه اداري او په نړیواله او ملي سطح د پالیسیو د تدوین او تطبیق ټول اړخونه احتوا کوي. د قدرت تخصیص او هغه

وسیله د کومي په وسیله چې اتباع په عامه چارو کې د ګډون حق تر لاسه کولای شي د ۵۲ مادې مطابق باید د اساسي قانون او نورو قوانینو په وسیله واضح کړای شي.

**په نړیواله سطح د پېژندل شویو بشري حقوقو او بنسټیزې آزادۍ د انکشاف په هکله د افرادو، ګروپونو او سازمانونو د مسولیت په اړه د ۸۹۹۱ کال د عمومي اسمبلې اعلامیه**

(۱) هر وګړی حق لري ترڅو په انفرادي شکل او یا نورو سره یو ځای پرته له هر راز تبعیض څخه د خپل هیواد په دولت او د عامه چارو په تر سره کولو کې ګډون وکړي.

(۲) هر وګړی حق لري چې په انفرادي شکل او یا نورو سره په ګډ شکل پر دولت او یا نورو اړوندو ادارو باندې انتقاد وکړی؛ د بهبود لپاره سپارښتنې وړاندې کړی او یا هم دوی هغه اشتباهاتو ته متوجه کړی چې په نتیجه کې د بشري حقونو او اساسي آزادۍ حفاظت او پرمختګ له ستنوزو سره مخ ګیږي.

**د دیموکراسۍ د ودې او د دوراني او خالصو ټاکنو د بهبود لپاره د ملګروملتونو د رول د پیاوړې کولو په هکله د ۳۱۰۲ کال د عمومي اسمبلې پریکړه**

عمومي اسمبله د دولتونو دا مکلفیت تاییدوی چې دوی به په ټاکنو کې د تبع لپاره په مساویانه ډول د ګډون کولو لپاره لازم اقدامات تر سره کوي.

**سیمه ایز**

<u>د اروپا شورا</u>

**د بنسټیزې آزادۍ او د بشري حقوقو د ساتلو لپاره د ۲۵۹۱کال اروپایي کنوانسیون په هکله ۱ لمبر پروتوکول**

(۳) اړوند چاړواکی دنده لري تر څو په مناسبو وختونو کې به د سري رایه اچونې په واسطه داسې ټاکنې تر سره کړي چې د خلکو آزاده اراده د خپلو استازو په انتخاب کې تمثیل شي.

**په ټاکنیزو موضوعاتو کې د ۲۰۰۲ کال د وینایس کمیسون د ښو فعالیتونو طرزالعمل**

(۲.۱۱.ب) د ټاکنو قانون اساسي عناصر په خاص ډول ټاکنیز سیستم، د ټاکنیزو کمیسیونو عضویت او د رایه اچونې لپاره د حدودو ټاکل باید د ټاکن څخه مخکې د یو کال په ترڅ کې تعدیل نشي. او یا هم باید په اساسي قانون او یا له عادي څخه لوړو نورو قوانینو کې په دې اړه احکام درج شي.

توضیحي راپور

(۶۶.۲.۱۱) د انحصار د مخنیوي یوه لاره دا ده چې په اساسي قانون او یا نورو لوړو قوانینو کې هغه مهم عناصر چې د تعدیل وړ دي لکه د ټاکنو سیستم، د ټاکنیزو کمیسیونونو غړیتوب،

د رايه اچونې لپاره د حدودو ټاکل بايد په روښانه توګه تعريف شي.  د دې موضوع بله د حل لاره دا دی چې په اساسي قانون کې داسې ذکر شي چې که چيرې د ټاکنو قانون تعديليږي نو پخوانی سيستم بايد په نويو ټاکنو کې حد اقل تر يو کال پورې  وکارول شي او له نوي سيستم څخه بايد وروسته له ټاکنو ګټه واخيستل شي.

**د ټاکنو قانون د ثبات په اړه د ۵۰۰۲ کال د وينايس کميسيون تفسيري اعلاميه**

(۱) د ټاکنيزو مسايلو د ښو فعاليتونو د طرزالعمل په موجوديت کې هغه اصول چې د ټاکنو قانون اساسي عناصر د ټاکنو څخه مخکې حد اقل تر يو کال پورې د تعديل تابع نه ګڼي، د تطبيق وړ نه دي.

(۲) بايد داسې حالت رامنځته نشي چې د اروپايي ټاکنيزو معيارونو خلاف وي او يا د نړيوالو سازمانونو له خوا د سپارښتنو د تطبيق په وړاندې خنډ جوړ کړي.

(۳) دغه اصل يوازې د ټاکنو قانون د اساسي قواعدو په اړه دی چې په نورو قوانينو کې ذکر کيږي.

(۴) په خاص ډول، لاندې مواد د قانون اساسي قواعد ګڼل کيږي:

- ټاکنيز سيستم، لکه د سيټنو لپاره د رايو د تخصيص اړوند اصول؛
- د ټاکنيزو کميسيونونو او نورو ادارو چې د رايو پاڼې تنظيموي د غړيتوب اړوند اصول
- د رايې اچونې د حدودو ترسيمول او د رايه اچونکو تر منځ د حدودو د ويش اړوند اصول.

(۵) په عام ډول د ټاکنو په وخت کې د ټاکنو په قانون کې هر راز تغيير بايد له ټاکنو ډير مخکې تر سره شي تر څو د تطبيق وړ وي .

## مشترک المنافع مستقل هيوادونه

**د مشترک المنافع هيوادونو بين‌الپارلماني شورا د ۸۰۰۲ کال د نړيوال څار د اصولو اعلاميه**[8]

(۹) د ټاکنو د پايلو د اعلانولو وروسته د دوه مياشتو په ترڅ کې د نړيوال څار ماموريت رييس يا مرستيال بايد خپل وروستې راپور د ياد هيوادونو عمومي مجمع ته وړاندې کړي.

(۰۱) (...) د څار په وروستني راپور کې بايد تخنيکي سپارښتني شاملې وي تر څو د کوربه هيواد د ټاکنو ريفرينډم پروسه بهبود و مومي.

۸ غير رسمي ژباړنه

### د امریکایی هیوادونو د عمومي شورا کورنۍ اساسنامه، کال ۱۰۰۲

او... دیموکراسي او د ټاکنیز څار چارې

(۳۲) په داسي حال کې چې غړي هیوادونه پر خپله د ټاکنیزو بهیرونو د پرمخ وړ حق لرې، کولی شي د امریکایي هیوادونو له سازمان څخه د خپلو ټاکنیزو بهیرونو د پیاوړي کولو په موخه د مرستو او تخنیکي مشوره غوښتنه وکړی. په دې غوښتنه کې د څار ماموریت هم شاملیږي.

(۴۲) د ټاکنیز څار ماموریت مکلف دی تر څو د خپلو فعالیتونو په اړه یو راپور په خپل وخت سره د سکرتریت له لارې دایمي شورا وړاندې کړي.

(۵۲) که چیرې د آزادو او عادلانه ټاکنو شرایط مساعد نه وي، د ټاکنیز څار ماموریت باید په دې اړه د سکرتریت له لارې دایمي شورا ته خپلې مشورې وړاندې کړي.

### نور اسناد او ستندردونه

### د نړیوال ټاکنیز څار د اصولو اعلامیه، ۵۰۰۲ کال

(۷) تمع کیږي ترڅو د نړیوال ټاکنیز څار هیأت خپلې دقیق، بې طرفانه او پر وخت اعلامیې (د ټاکنو چارواکو او نورو اړوندو نهادونه ته د اعلامیو د نخسو وړاندې کول) خلکو ته وړاندې کړي او په دغو اعلامیو کې د خپل ماموریت موندنې، پایلې او داسې سپارښتنې شاملې وي چې د ټاکنو د پروسې په انکشاف کې مرسته کولای شي.  هیآتونه باید د خپل حضور څخه په کوربه هیواد کې خبر وکړي او د خپل کاري مودې، پروګرام او داسې نورو مسایلو په هکله معلومات ورکړي.  یاد هیئت باید د خپل ماموریت په اړه په منظم ډول راپور وړاندې کړي.  د څار هیآت باید له ټاکنیزو مسولینو سره خصوصې غونډې تر سره کړي تر څو د  هیات موندنې، پایلې او داسې سپارښتنې تر بحث لاندې ونیسي.  نړیوال ټاکنیز څار هیآت باید اړوند هیواد او نړیوالو سازمانونو ته هم خپل راپورونه وړاندې کړي.

(۸) هغه سازمانونه چې دغه اعلامیه او ورسره د نړیوال ټاکنیز څار طرزالعمل تصویبوي، ژمنه کوي تر څو یو له بل سره به د نړیوال ټاکنیز څار په هکله همکاري کوي.  نړیوال ټاکنیز څار کیدای شي یوازې د یوه هیآت، د ګډو هیآتونو او یا هم د څو همغږو ګډو هیآتونو لخوا تر سره شي.  په هر حالت کې، تصویب کوونکي سازمانونه ژمنه کوي چې یو له بل سره به په ګډه کار کوي تر څو د نړیوال ټاکنیز څار چارې په ښه توګه تر سره شي.

### د ملي سازمانونو له خوا د ټاکنو بې طرفه څار د نړیوالو اصولو اعلامیه، کال ۲۱۰۲

(۴) د ملي سازمانونو لخوا بې طرفه څار او څیړنه د همغږی ښکارندویه یو عمل دی چې په سیاسي ډول په غیر جانبدارانه، بې طرفانه او له تبعیض برته تر سره کیږي؛ تر څو په عامه

چارو کې د اتباعو د ګډون حق تامين شي.  د دغه چارو په اړه راپورونه چې د ټاکنو په اړه انکشافات؛ د حقوقي چوکاټ، نهادونو، بهيرونو او سياسي چاپيريال جامع، منظمه او آزاده ارزونه په کې رانغړل شوي وی، خلکو ته وړاندې کيږي. دغه راز دا راپورونه او ارزونې بايد صحيح او غير جانبداره وي او موندنې په کې تحليل شي. موندنې بايد د لوړو ستندردونو په پام کې نيولو سره چمتو شوې او دقيقې وي.   په راپورونو کې بايد د ټاکنو او حقوقي چوکاټ د انکشاف په اړه مناسبې سپارښتنې هم شاملې وي او دغه سپارښتنې بايد د ټاکنو اړوند اداري پروسو په ترڅ کې عملي شي تر څو په دغه لاره کې خنډونه له منځه لاړ شي او اتباع وکولای شي په ټاکنيزو او سياسي پروسو کې په ډاډه زړه ګډون وکړي.

## د ديموکراسۍ او بشري حقوقو په هکله د اروپايي اتحاديې کاري پلان د ۲۰۱۵- ۱۹ کلونو لپاره

(اقدام ۲۳V.ب) له ټاکنو څخه د اروپايي اتحاديې د ټاکنيز څار ماموريت او د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر او د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان د ټاکنيز څار سپارښتنو، د سياسي بحثونو او د غړو هيوداونو د تقويت لپاره بايد ښې تجربې شريکې شي او تقويتي فعاليتونه تر سره شي.

# ضمیمه (B): د ټاکنیزو سپاربښتنو د تعقیب په اړه نور اسناد او سرچینې

## د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان

**د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر ODIHRد ټاکنو لارښود**
http://www.osce.org/odihr/elections/119893

د ټاکنو د څار لارښود: شپږم چاپ، ۰۱۰۲
د کمپاینونو د مالي چارو د څار لارښود، ۵۱۰۲
په ټاکیزو بهیرونو کې د ملي لږکیوو د ګډون د پراخولو په اړه لارښود، ۴۱۰۲
د ټاکنو لپاره د حقوقي چوکاټ د بیاکتنې لپاره طرزالعمل، ۳۱۰۲
د رای ورکوونکو د نوې ټکنالوژۍ د څار لارښود، ۳۱۰۲
د رای ورکوونکو د نوم لیکنې د څار لارښود، ۲۱۰۲
د ټاکنو د څارنې هیېت لپاره د رسنیو د څار لارښود، ۲۱۰۲
د ټاکنو د اوږدمهاله څارونکو لارښود، ۷۰۰۲
په ټاکنو کې د ښځو د ګډون د څار لارښود، ۴۰۰۲
د ټاکنو د سیمه‌ایزو څارونکو لارښود، ۳۰۰۲

**د ODIHR د ټاکنو اړوند د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر حقوقي لیدلوری او تبصرې**
http://www.osce.org/odihr/elections/195256

**Legislationline.org د ODIHR د ټاکنو اړوند د حقوقي مسایلو د دیکوکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو دفتر دیتابیس د انترنیت له لیارې قانون جوړونه**
http://www.legislationline.org/

**د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د دیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر د څارنکو لپاره د زده کړې آنلاین کورس**
http://www.odihrobserver.org/

**د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د تصمیم نیونکو ادارو لخوا اسناد**
http://www.osce.org/resources/documents/decision-making-bodies

**د بشرحقوقو د ابعادو په اړه د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان ژمنې ( دریم چاپ)**
موضوعي مجموعه لومړی ټوک: http://www.osce.org/odihr/76894
۲ زمانی مجموعه دوهم ټوک: http://www.osce.org/odihr/76895

## ملګري ملتونه

د ملګرو ملتونو د تړونونو ډیټابیس
https://treaties.un.org/

د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو اداري
http://www.ohchr.org/EN/HRBodies/Pages/HumanRightsBodies.aspx

د بشري حقوقو د شورا خاص طرزالعملونه
http://www.ohchr.org/EN/HRBodies/SP/Pages/Welcomepage.aspx

نړیواله دوراني کتنه (UPR)
http://www.ohchr.org/EN/HRBodies/UPR/Pages/UPRMain.aspx

(UPR) د معلوماتو ، سپارښتنو او داوطلبانه ژمنو دیتابیس
http://www.upr-info.org/database/

## اروپايي شورا

د اروپایی محکمي د قضاویاو د قانون دیتابیس
http://hudoc.echr.coe.int/eng#{"article":["P1-3"]}

د اروپایی محکمي د آزادو ټاکنو د حقوقو لنډیز ژورنال
http://www.echr.coe.int/Documents/FS_Free_elections_ENG.pdf

د Venice کمیسیون د رایو دیتابیس – د ټاکنو اړوند قانون
http://www.venice.coe.int/VOTA/en/start.html

د Venice کمیسیون لیدلوری او مطالعات
http://www.venice.coe.int/WebForms/documents/by_opinion.aspx

د د اروپایی دولتونو د فساد ضد شورا د ارزوني او تطابق راپورنه
http://www.coe.int/t/dghl/monitoring/greco/documents/index_en.asp

# ضمیمه (C): د نومونو او اصطلاحاتو لنډیز

| | |
|---|---|
| CCPR | د سیاسي او مدني حقونو د نړیوال کنوانسیون د دبشري حقوقو په مسایلو د څار کمیته |
| CEDAW | د ښځو په وړاندې د هر راز تاوتریخوالي د له منځه وړلو کنوانسیون |
| CEDAW Committee | د ښځو په وړاندې د هر راز تاوتریخوالي د له منځه وړلو کنوانسیون د څار کمیټه |
| CERD | د نژادي تبعیض د له منځه وړلو کمیټه |
| CiO | د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان داخل خدمت رییس |
| CIS | مشترک المنافع مستقل هیوادونه |
| CMW | د مهاجرو کارګرانو او د هغوی د کورنۍ غړو د حقونو د ساتلو د نړیوال کنوانسیون د څار کمیټه |
| CRPD | د معلولو اشخاصو د حقوقو کنوانسیون |
| CRPD Committee | د معلولو اشخاصو د حقوقو کنوانسیون پر تطبیق د څار کمیته |
| CSO | د مدني ټولني بنسټونه |
| DoP | د ټاکنو څخه د نړیوال څار د اصولو اعلامیه |
| ECHR | د بشري حقوقو په اړه اروپایی کنوانسیون |
| ECtHR | د بشري حقوقو په اړه اروپایی محکمه |
| EMB | د ټاکنو د تنظمولو نهادونه |
| EU | اروپایی اتحادیه |
| FO | د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان سیمه‌ایز عملیات |
| GRECO | د فساد په ضد مبارزي د اروپایي هیوادونو شورا |
| HCNM | د ملي اقلیتونو په اړه د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان عالي کمیشنري |
| HDC | د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د بشري ابعادو کمیټه |
| HDIM | د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د بشري ابعادو د تطبیق غونډه |
| HDS | د اروپا امنیت او همکارۍ سازمان د بشري ابعادو په اړه سیمینار |

| | |
|---|---|
| IADC | د امريکا کورنۍ ديموکراتيکه اساسنامه |
| ICCPR | د مدني او سياسي حقوقو نړيوال کنوانسيون |
| ICERD | د هر راز نژادي تبعيض د له منځه وړلو نړيوال کنوانسيون |
| ICMW | د مهاجرو کارګرانو او د دوی د کورنيو د حقوقو د خخه د دفاع نړيوال کنوانسيون |
| International IDEA | د ديموکراسۍ او ټاکنيزو مرستو نړيوال انستيتيوت |
| NAM | د اړتيا د ارزوني هيآت |
| NGO | غير دولتی بنسټونه |
| OAS | د امريکايي ايالتونو سازمان |
| ODIHR | د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان د ديموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو دفتر |
| PC | د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان دايمي شورا |
| RFoM | د رسنيو د آزادۍ لپاره د اروپا امنيت او همکارۍ سازمان استازی |
| UDHR | د بشري حقوقو نړيواله اعلاميه |
| UN | ملګرې ملتونه |
| UNCAC | د فساد په وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسيون |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پرمختيايی پروګرام |
| UPR | نړيواله دوراني کتنه |
| Venice Commission | د قانون له طريقه د ديموکراسۍ لپاره د اروپايي شورا کميسيون |